لیکونکي : سیباستین یونګر ( Sebastian Junger )

منبع اودخپریدو نیټه : نیویارک ټایم (۲۰۱۴-۱۱-۱۵)

ژباړونکي: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

---

## په افغانستان کی دطالبانو دوادی دزړه په مینځ کی ترږمی

## Heart of Darkness: Into Afghanistan’s Taliban Valley

*په افغانستان کی دغربی ژورنالیستا نونه لاس رسی اویا لاس نه وررسیدل دکورنیګال په وادی کی په استثنا دامریکی دمتحده ایالاتودسرتیرو شتون او هغه هم دافغانستان دجنګ اود جګړی په یوه ډیر زیږ اوسخت له بریده وتلی سیمه کی هغه څه دی چی دهغه په اړه باید یو څه وویل شی :*



دکنړدکورینګا ل وادی ته دد وه غربی ژورنالیستا نودسفر یو په زړه پوری ګذارش

*******

ځو کاله دمخه ما د مات فریبیتیک او ددانیل سیکمن دوه غربی ژورنا لیستا نو په غیرمترقبه اویو ناڅا پی بڼی سره دکورینګال دسیمی د ترشنه آسمان لاندی دورتلو تعهد وکړهغوی هغه وخت په کابل کی ژوند کول اوپه هڅه اواند کی وه چی څرنګه کولای شی چی په یو شکل اویا بل شکل سره ځان کورینګال ته ورسوی کوم چی ما دافغانستان

دهغه سیمی سره ښه بلدیت درلود.دکورینګا ل ( Korengal ) وادی دکنړ دولایت یولیری غرنی سیمه دی ، هغه وخت چی زه په دی منطقه کی اوم هلته د امریکی دمتحده ایالاتو دسرتیرو د جنګ اودجګړی (2008-2007) ډیر سخت میدان وه اما کله چی دامریکی سرتیری له دی منطقی څخه ووتل نو پس له هغو دغه سیمه په بشپړ بڼی سره دطا لبا نو ترولکی لاندی پریوت .په نوموړی منطقه کی د امریکی د یوشرکت پیاده نظام یا پلی سرتیرو ځای پرځای شوی وه کوم چی دهغو د پاره په هغه سیمه کی ګشت اوګذر په کافی اندازی سره خطرناک وه اودهغو د پاره ګشت او ګذرپه هغه سیموکی په مفهوم دخودکشی او ځان وژنه بل شی نه وه .

کله چی هغوی یعنی (ماټ او دانیل » بیرته راستون شو نومونږ په منهاتیم دتریبیکا په ناحیه کی دیوکافی شاپ په زیر زمینی کی سره د ملاقات اودلید و وعده کیښودچی سره له نژدی وګوروا اوپرهغه ستونزو باندی بحث اومداکره وکړو کوم چی هغوی څنګه کورینګال ته ځان ورسول زه دځنودلایلو له مخی ونتوانیدم چی په ټاکلی وخت دملاقات ځای ته ځان ورسوم اوهغه داچی ما په لاره کی ډیر بیړه وکړ چی په وخت سره ځان ورسوم امامتا سفا نه چي په لاره کی دباریک ستریت (varick street) په کوڅه کی ما دیو نراوښخه ( چی په اغلب ګمان سره میړه اوښځه وه ) سره هم دلیدو وعده درلود چی هغوی سره وګورم ، دغه ښځه اومیړه سره مخا مخ دعوی کول اوما ته داسی رامعلوم شو چی دغه نراوښځه یا لیونیان وه اویا جن کوم چی هغوی دخپل هد ف ته درسید و دپاره په هڅی اوپه اند کی وه او ځما وخت یی ونیول..

هغوی یعنی (ماټ اوډانیل) دیوی ساعت دقهوی څښلو په موده کی په دی باندی سره مرکه او بحث کول اوماته څرګندونه کول چی مونږ څرنګه ځان جلال آباد ته ورسول اوبیا له هغه ځایه څخه دکنړ دولایت هغه ښکلی او په زړه پوری سیمی ته او بیا د پیچ ددری دسیند غربی خواته کوم چی د کورینګال په خول کی موقیعت لری هلته مو ځان څرنګه ورسول. دوی ددی سفر د پاره د هغه سیمی محلی جا می پرتن کړی وه اوهم اوږده ګیری لرلی اوپه ډیر مشقت او په تولید لو (لغزش) سره ګام په ګام ځان هغه ټاکلی نقطی ته ورسول هغه ځای ته چی زه یو وخت مخکی دیوشمیرمبارزه کونکی اوجنګیالیو سره په هغه سیمه اوساحه کی اوم اوما دهغی سیمی په لاری اوسرکونو کی اود هغه ځای له مناظرو اوطبیعت څخه می خوند اخیستل اوپه اصطلاح سره غوړیدم اما زه دامریکی دمتحده ایالاتودسرتیرودکړونوپه پرتله سره هغه لوبی چی ما کول لکه د یو کوچنی هلک دلوبی په څیر وه اوهغه داچی دوی هلته یوائی اوبی دسلاح اوبی ټاکی واکی سره ګشت اوګذر کول ، اوکه چیری دوی دطالبانو له خوا پیژندل شوای وای نو دهغو مرګ اووژنه حتمی اوضروری وه اوله طالبانو څخه د هغو دخلاصون هیڅ هیله او امید نه ترسترګو کیده .

د(ماټ اودانيل ) سربښيندنه اوفداکاری هغو ته دا زړه ورتيا ورپه برخه کړل کوم چی هغوی په ډير ژور اوهراړخيز بڼی سره دافغان دټولني پراناتومی اودهغه هيواد په سياسيي چاروکی لازم پوهاوی اوشناخت تر لاسه کړ ، دلته بايد په ډاګه شی او هغه داچی هيڅوک لاتراوسه د افغانستان په روانو حالاتو باندی لکه د(ماټ اوددانيل) د لړليد په څير وروسته دامريکايانو درغړيدو (ړومبی يا څپه) په اړين رڼا نه دی اچولی اوهغه داچی امريکا يا نو يا دامريکی متحده ايالات په دغه روانه اوږده مودی جنګ کی خپل (۲۲۰۰) سرتيری دلاسه ورکړاوپه سلونو مليونونو ډالر ددی هيواد داقتصاد د پيا وړتيا اودهغه دزيربنا يی جوړښتونو د بيا رغونی د پاره په مصرف ورسول مګر متاسفانه چی زمونږ هلی ځلی څه ځای ونه نيول او هغه هد فونه چی مونږ مخکی سره ټاکلی وه تر لاسه نه شو اوسی چی مونږ له دغه هيواد څخه پښيی سپکوو او سره وځو لا تراوسه نه دی معلوم چی وروسته زمونږ دوتلو څخه دلته به څه راپيښه شی ؟ سره له هغه چی زمونږ دهيواد دپاره دغه پورتنی هلی ځلی ډير قميت تمام شو امه هغه څه چی بايد دلته بی له ويری او ترس وويل شی هغه دادی چی (ماټ او دانيل ) خپل ښه احساس او خپل ښه نظر دافغا نستان په هکله سره بيان کړی چی دغه ګذارش او راپور به دڅو راتلونکو کلنو څخه وروسته به زمونږ دخوش چانسی ديو ارمغان په څير دتاريخ په پا ڼو کی به پاتی شی .

Sebastian Junger Author of war and director of Restrepo and Koregal

---

## لمړی

حاجی زلوارخا ن زمونږ په طرفه راوخوځيد اودموټر شاتنی سيټ کی مونږ ته ځای راکړ او پخبله د موټر په مخ سيټ کی کينا ست زمونږ د موټر دريور د تويټا هيلوکس د موټر په مخکينی او دوه اړخيزو لګول شوی هندارو کی مخکی له دی چی مونږ په هغه ټاکلی ځای کی پلی کړی زمونږڅيرو اومخونو ته ډير په ځير سره کتل . په دی وخت کی موټر په اول ګير کی ورو روان وه اومونږ داسعد آباد دځلور لاری څخه کله چی تير شولو د يو څه وآټن په تګ سره هلته موديوی نوی مسجد ساختمان ولید چی دهغه په رسته کی نوی ټيټ او پاس نوی تعميرونه هم دساختمان په حالت کی وه او ديو دوپوړيز کور دديوال په يوبغل کی د حامد کرزی عکسونه زمونږ نظر ځا نته راواړول چی هغه په خپل تصوير کی لاس پورته کړی وه اوخپل خلکو ته په مسکی قواره

سره خبری کول دهغه ساختما ن څخه یوائې لس میله مخ ته پا کستان را ښکاریده او زمونږ په چپه اړخ کې دپیچ سیند بهیدل چې دهغه سره جوحت د کورینګال دره زمونږ دلیدو انتظار ایستل .



Matt Trevithick

دیادونی وړ مطلب دا چې دوه ورخ ةخکی مونږ ته یوتلیفون راغی اوپه تلیفون کې مونږ سره تماس ونیول شو اومونږ هغه کس ته چې مونږ ته تلیفون کړی وه وویل چې مونږ غواړو د کنړ په ولایت کې کورینګل وادی ته لاړشو اومونږدخپل دورتګ اجازه دطالبانو دهغه ځای دمسول حکومتی استاذی څخه ترلاسه کړی دی چې دهغه مجوزپربنیادمونږکورینګال ته اوس روان یو دغه طالبان کوم چې مونږ دهغو څخه دورتک اجازه اخلو دا هغه جګړه مار طالبان دی چې دهغه ځای دامریکایی میشتو مسولومقاماتو له خوا پیژندل شوی اوکله ناکله دریستریپو(*Restrepo = یولړمستند فلمونه دی چې د رخصتیوپه ورځو کې دامریکې سرتیرو ته په افغانستان کې ښودل کیږی.* ) د مستند دفلمونو ننداره چیان هم دی . بی ویلو دی پاتی نشی چې دکورینګل په دره کې په دی «۱۳» کلنو اوږد جګړه کې بی شمیر امریکایی سرتیری نسبت دافغانستان

له نوروبرخو څخه دلته زیات خپل ژوند دلاسه ورکړی اوددی دری هرځنډه دامریکای سرتیرو په وینو سره لړل شوی دی نو بیځا یه نه دی چی پر دغه دره باندی د (مړی دوادی) مستعارنوم ایښودل شوی یعنی چی دلته امریکا یا نو قتل عام شوی دی. په هرصورت مونږ هغه غربی ګروپ خلک یاستو چی په دی دری لسیزو کی دلته کورینګل ته داخلیږو یعنی مونږ ته اجازه ورکړ شوی چی دکورینګل تر شنه آسمان لاندی ګشت وګذر وکړو.



**مونږ دلته یویا په ساده ژبی سره دکنړ په ولایت د کورینګی په وادی کی د جبهی لمړی کربښی ته نژدی په یو بی پرتله او بی پولی جګړه کی**

زمونږ ایسکورټ یا زمونږ ګارد حاجی ځلوارخان دهغه وادی دیوکلی دشورا مشر وهُ هغه یو ډول محلی پطلون چی د (shalwar Kameez) په نوم سره یادیږی اغوستی وه اودهغه په تن کی یو شکیدلی واسکټ تر سترګو کیدل هغه یوه لویه او اوږد ږیره درلوداوهم دهغه پزه یو ډول مخروطی شکل پزی په څیر اویا د ګوتسون بورګلم ( Gutzon *Borglum* = *په تیبیره کی حک شوی پزه او څیره لکه چی په لاندی انځور کی دامر یکی د پخوانیو* جمهورو *ریسانو انځورونه په ډبره کی حک شوی دی اود هغو پزی یوډول* مخروطی *ښکاری* ) دپزی په شکل پزه درلود ،دهغه پطلون یوڅه لنډه وه او د هغه

دپښی بجلیکی له ورایه ښکاریده ،هغه خپل ستایل دهغه منطقی دیو محافظه کار مسلمان په څیرساتل دهغه په جیب کی یوه تسبح وه اوکله چی هغه پراسلام – جهاد- طالبان اوامریکا یا نو باندی خبری کول نو د خپل تسبیح دانی یی یوبل پسی اړول اوراړول .



دامریکی دمتحده ایالاتو دڅلورو جمهورو ریسانو حک شوی انځورونه

هغه نه لیکلی شو اوهم نه لوستلی یعنی پوره بی سواد وه دهغه دلاس په بند کی یو فلزی بند لرونکی ساعت ترسترګو کیده چی د خپل ساعت هنداره یا قاب یی دلاس دبند ښکتنی برخی ته اړولی وه اودهغه په جیب کی یوه مسواک وه چی کله ناکله خپل غاښونه پرهغه باندی بورس کول دهغه دزیړبخن اوښیرن لستوڼي څخه داسی ښکاریده چی هغه خپل جامی له ډیری مودی راهیسی نه دی پریمنځلی ، څلوار خان دتیری لسیزی په موده کی دطالبانو اودامریکایانو ددوه متضادو قوتونو تر مینځ د یوو پندول (دساعت لنګر یا رقاصه ) په توګه چلن کړی دی- یعنی امریکایی اوطالبی څواکونه دوادی یا ددری دترلاسه کولو دپاره جنګ جګړه کول څلوارخان تل هڅه کړی چی د امریکایان د پاره داسی زمینه برابری کړی کوم چی هغوی وتوانیږی دهغه منطقی دمشرانو اورهبرانو

سره وګوری اویا سره په مشوره کیښیني ! اما کله چې امریکا یانو د کورینګل ددری په ترلاسه کول کی سره پا تی راغلی دی نو په دی وخت کی ښاغلی ځلوارځان په قصدی ښی سره موضوع ته ښه غوږنیولی اووروسته بیادخبرو کولو په وخت کی پر امریکایی قوماندانانو باندی په قهر شوی د هغو سره په بی ګټی ښی سره پر پیسو ،دندو اوپه منطقه کی دپرمختګ په اړوند دافغانستان په هغه نارامه سیمه کی په خبرو اترو راغلی دی .

زمونږ دموټر دریور یوه داکتر وه کوم چې هغه دطالبانو سره دمرستی په تور دامریکایی قوتونو پواسطه سره دستګیر شوی او په بندی خانه کی ساتل کیدل ُهغه ډیر ژور سترګی درلود اودهغه اوږده ږیره ماش برنج رنګ درلود نوکله چې مونږ دکنړ مرکز اسعد آباد څخه تیرید و هغه موټرپه وړه ګیر کی چلول اودنوموړی موټردشترنګ په کمک سره مونږله هغه ایښودل شوی جعبه څخه چې د سړک په مینځ کی ایښودل شوی وه او په اغلب ګمان سره ممکن جی بمب یا په هغه کی چادیدونکی ماده وه بچ کړلو له هغه جعبی څخه چې دوه اونی مخکی کله چې مونږ دهمدی لاری څخه تیرید لو دعه جعبه نه ترسترګو کیدل ، دغه سفر دطالبانو ددولتی استاذی پواسطه سره تنظیم شوی وه چې زمونږ محافظ اویا باډی ګارد ځلوار خان وه او زمونږ دسوارلی موټر کورنیګل دری ته په وار وار داخلیدل او خارجیدل اومونږ داسی ونګیرل چې څوک به زمونږ دپاره به په کمین کی اووسی اومونږه والوزوی اما مونږ په لاره کی څه شی ونه لیدل اما کله چې مونږ پروسږکال کورینګل ته داخلیدلو نو مونږ خپل ځان د جنګ داور په متقابل ساحه کی پیداکړ اوزمونږ دپاسه د بی پیلوته الوتکی د پرواز دبز بز غږتر غوږو کیدل نو په دی وخت کی مونږ پر وضع باندی ډاده شولو او پرخپل ځان دهر ډول یرغل ګمان رد کړل .

زمونږ دموټر دکړکی څخه له تیګو او دلرګیو څخه جوړ شوی کورونه په ځغلنده نظر سره راښکاریده اوهم لمر په جګیدووه کوم چې دلمرزرین وړانګی د پیچ اودکورینګل په درو کی دهندوکش دغردڅوکودپا سه خپل لمن اواره ول اودپیچ اود کورینګل وادیوته ځانګړی ښکلاورکړی وه ،هسی ښکلا چې دهر لیدونکی دپاره د طبعیت د پام وړ اسرار ورپه ګوته کول .اوهرهغه وخت چې موټروان غوښتل چې خپل نقلیه وسیله یا خپل موټر مخا لف غاړی یا اړخ ته سم کړی نودهمدی لاری یا دسړک په بغل اوڅندوکی دلاس دګوتي په ښه نور

وړی دریی یاوادی ګانی ترسترګو کیږی چی موټر وان خپل موټر لاری ته سم کړی هغه وادی ګانی چی دپیچ اود کورینګل په دره کی هغه درو ته بنکلی بڼه ورکړی دی اودهمد و درو په بغل کی دوه نور دری هر یو د شوریک (Shuryeck) اود واټپور (Watapur) دری پراته دی ، د شوریک په دره کی په کال (۲۰۰۵) کی یو عملیات د سور وزر(Red Wing) تر نامه لاندی دامریکایی قوتونو له خوا تر سره شو چی په هغه عملیا ت کی له بده مرغه (۱۹) امریکایی سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړ اویواځی یوامریکایی سرتیری ژوندی پاتی شو ، واټپور چی دالقاعدی دجګړه مارو کور اود مرکز بڼه لرل په دی وخت کی دیو څه مودی څخه له پامه هیر شوی وه ، چی ورروسته بیا دواټپوردره دمزایل په منظم اوپه پرله پسی ګذارونوسره جوګه شواوپرنوموړی دری باندی د امریکایی دمزایلو دتوغندیو دګذارونو اوربل شو. دبلی خوا څخه په یاد مودی چی پروسږکال دوړی په موسم کی مونږ دیو افغانی ځانګړی نظامی قوتونو سره پیچ دری ته په سفر لاړو او هغه وخت ښه مو په یاد دی چی افغانی ځانګړی قوتونه د خپل ګزمی وهلو په وخت کی د سړک د غاړی په یوه لیری ځای کی چی د سړک څخه (۱۰۰) متره فاصله درلود د عربی اشرارو یا دافغانی دشمنانو پټ خایونه کشف کړ چی هغوی هلته خپل ځا نونه خوندی کړی وه .

مونږ دلته یو ، یا په سا ده ژبی سره دکنړ په ولایت کی د کورنیګل په ښکلی وادی کی دجبهی لمړی کربښی ته نژدی په یوه بی پرتله اوبی پولی جنګ جګړه کی د هیواد دقوتونو دامنیتی یوستر ازموینی اودغښتلتیادلاسته راوړلوپه منظور ځای پرځای یو دلته دکنړ په ولایت کی کوم چی دهیواد دنورو برخو په پرتله مونږ ته دخپل هیواد دراتلونکی په اړه ډیر شیان وایی اویا ډیر تجربی راښیی په شمول دهغه څه چی په کابل کی دمدرنیزی په لورپو هنتون ،انترنیت اودښځو دژوندانه دلارو چارودلټول په اړه دکنفرانسونه پرانیستل دی کوم چی دنړی څخه ډیر لیری دی.

هغه یوه دلګرمی او علاقه چی زمونږ ددواړو سره موجود وه هغه دا وه چی مونږ.باید دلاری اودسرکونو په امتدادکی دافغانستان(۳۴) ولایتونوته سفر وکړو مونږ په تیر لسیزیزه کی خپل زیات وخت دافغانستان په شرقی غرنی برخو کی په سفرونو تیرکړل یعنی دهیوادهغو برخوته چی امریکایانودخپل عملیاتونو

مخه له جنوب ځخه شرق خواته اړولی وه سفر مو وکړل. زمونږ دسفر هدف داوه چی مونږ باید هغه ځای ترلاسه کړویا هغه ځای ته لاړشو کوم چی هلته په احتمالی بڼی سره د نظر یا د تیوری دوضیعت یا دحالت(داحتمالی تیوری ارزونه) په اړین کوم چی په نهایت کی اختلافا ت سره ډیر مرموز اوناځرګند ښکاری مګرکیدای شی چی دهغه محل رهبران اوسرخیلو هغه شیان یا ناځرګند اختلافات راوڅیړی او دغه قومی مشران کوم چی دطالبانو سره له نژدی پیژنی یا دهغو سره اړیکی لری پروضع باندی خبری اتری وشی نو دهمدی دلیل په اساس هغه ځای چی مونږ دهغه په لټون کی اوو هغه د کنړ ولایت دی چی اوس دلته مونږ سفر کړی دی ، دیادونی وړمطلب دادی چی په دغه له یاد وتلی اوهیره شوی ولایت کی هریو شخص اویا هریو لوبغاړی په موجوده اختلاف او دښمنی کی په یو شکل اویا بل شکل سره ښکیل دی اوروان اختلافات پخپل رڼو سترګو سره ګوری اوهغه ته دځپل هیواد دراتلونکی برخه لیک په اړین یوڅه نظر اواندیښنی ور په برخه کوی لکه چی مونږ د یوسړی تر شا روان یو چی هغه په ډیر بیغمی اوپه ډیر ډاډګیرنی سره څه دکورینګل دوادی په دننه اویا په دبا ندی مونږته ښه راهنما یی اولاربښودنه کوی کوم چی دا شخص ښاغلی (ځلوار خان ) دی .

## دوهم

افغانستان له هغه نه چی په کال (۲۰۰۸) کی دغربی کړیو دبحث سرټکی ګرځید لی وه اودامریکی دمتحده ایالاتو دنظامی قوتونو او د سرتیرو ښکیل په یوه بی ګټی جګړه کی دیو ما تی خوړلی هیواد دسا تنی اودحفاظت دپاره پری خبری اتری کیدل اوس دهغه افغانستان په پرتله سره ډیر متفاوت دی ، اودا په دی مفهوم چی هغه ښکاره تیر شوم اوناوړی باورونه له مینځه تللی دی اما دهغه بی باوریو پرځای کی یولړ پی تفا وتی میشته شوی دی .

دیادونی مهم ټکی دلته دا دی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دوه ستر جنرالان هریو پتریوس او مک کریستل له ډیر پخوا څخه په دی تمه وه اویا د هغو غوښتنه داوه چی په افغانستان کی دامریکایی د سرتیرو شمیر چی اوس په حدود د (۱۳۰۰۰۰) سرتیری دی لاپسی زیا ت شی اما دانه چی د سرتیرو شمیر زیات نشول بلکه داسی پریکړه وشو چی دسربازانو شمیر تر (۳۵۰۰۰) پوری را ټیټ کړ شی او داسی هم فیصله شو چی ددی شمیر سربازانو به یو

زيا ت شميرددی کال په پای کی له افغانستان څخه به پښی سپکی کړی .له بلی خوا څخه یو شمیرخصوصی امنیتی قراردادیان یا پیمانکاران دخپلو اودخپلوانو دګټی دتر لاسه کولو په نیت دهغه په درواغو سره دفترونه وتړل او خپل یو شمیر کارکونکویا مستخد مینوله دندی څخه ګوښه کړل .حال داچی په افغانستان کی د امریکی دمتحده ایالاتو سفارت په کافی اندازی سره پیسی دافغانستان دښځو دکنفرانسونو دجوړولو ، دایرولو او دهغو دظرفیتونو دلوړولو ډ پاره په مصرف رسوی اونه غواړی چی لکه خصوصی امنیتی پیمانکارانو په څیر بی تفاوتی دخپله کړی اویا مواردو ته آهمیت ورنکړی . په هر صورت اوس په افغانستان کی هغه لوی اوغټه پرابلم سره چی غربی نظامی قوتونه مخامخ دی دهغو وسایل او وسایط دی چی څرنګه وشی کړلی چی دغه سامان الات اوتجهیزات دځانه سره یو ځای له افغانستان څخه وباسی ، **د بلی خوا څخه خنده ونکی موضوع دادی چی دغه غربی قوتونه دخپل بریالیتوب بستری یا بارونه تړی حال داچی دوی د افغانستان په دغه (۱۳) کلن جګړه کی د پوره ماتی سره مخامخ شول یا په ساده ژبی سره دوی په دی جګړه کی په بشپړ بڼی سره ماتی وخوړل .** اودا ځکه چی دوی په دی (۱۳) کالو کی سره دډیرهڅی اواند او د(۲۲۰۰) سرتیرو دلاسه ورکولو سره ونتوانیدل چی پریالیتوب تر لاسه کړی اوپه پای کی داسی حکم یی صادر کړل : **افغانستان دی باید پخپله له خپله ځانه ساتنه او دفاع وکړی !**

اویا داچی دغه روایت دغربی ژورنا لستا نو له خوا په تصویب رسیدلی ،حال داچی دغه ډول څرګندونی اوادعاګانی پخپل پوره قوت سره دهیواد په هر ګوټ کی دخلک له خوا هم ترسره کیږی ، یواځی په کابل کی دغه ډول تبصری او څرکندونه دیوڅه محدودیت سره مل دی اوهغه هم په دی مفهوم چی دهیواد په پلازمیه کی خلکو خپل بیل قصی او داستانونه لری نو په دی وجهه هغو چی کله ناکله یا په ندرت سره دی ته اړ کیږی چی د پلازمینی څخه ووځی نو دهغوی لړ لید د ښار په اړه یوڅه انحرافی بڼه ځا نته نیسی ، هغوی خپل قصی اوداستا نونه اغلباً په ضمنی ډول اویا هم کله ناکله په ښکاره بڼی سره داسی څرګندوی چی دهغوی هیواد د خپل ژوند په نا مشخص اخری پړاو کی لاس اوپښی وهی اوهغوی له بده مرغه په یولړ عذابونو او ستونزو سره ککړ ژوند تیروی .

له کابل څخه سا تنه اودفاع لا تراوسه ډیر ستونزمن ښکاری ، اود دی ادعا دثبوت دپاره کولای شوچی په کابل کی دیولبنا نی مشهورکافی څښلورستورانت باندی له هغه ډیر قوی چاود نی څخه یاد کړو چی دجنوری په میاشت کی تر سره شو اودهغه په نتیجه کی (۲۱) نفر خپل ژوند دلاسه ورکړل ، یا داچی د مارچ په میاشت کی دطا لبا نویرغل پریوه هوټل باندی کوم چی ماټ (Matt ) کله چی دډزو آ واز اوری خپل ځان په منډه سره کوځی ته باسی او ددی وخت نه پیدا کوی چی دیرغل څخه دهغه بشری ضایغاتوارقام اواحصایه ترلاسه کړی ، یا هغه حمله او یرغل چی له یو غبرګ نیم کاره پحال دساختمان تعمیر څخه ډزی کیدل او دمهاجمینو اودښار دامنیتی مسولینو تر مینځ سخته جګړه روانه وه اویا داچی مونږ دواړه هغه دوه څنګ په څنګ موټرونه کوم چی په هغه کی انفجاری مواد منفجر شوی وه پخپلو سترګو ولیدل چی زمونږ دکار خونی او شعبی ته نژدی دهغه ټوټی چیری وړل کیدل نوددی شواهدو په لیدو سره ویلی شو چی دکابل ښار یا دکابل دښار وضیعت یو څه ناڅه لاندی باندی ښکاری یعنی دسقوط په درشل کی یا د تلو اود نه تلو په وضیعت کی قرار لری .

مونږ له هغه را دعوت شوی خپل ایمل څخه د ځان سره داسی برداشت وکړل چی په کابل کی هغه متباقی مها جرین یا راغلی با ند نی قوتونه ددی هفتی په پای کی لمړی کوم یوه برخه یاکوم یوه ډ له به پښی سپکوی اووځی ، یعنی له هغه ښاره څخه چی په هرڅنډه کی یی نوی نوی ساختما نی تعمیرونه دساختمان په حالت کی دی کوم چی دیرغلګرو دپا ره یو ډیر ښه سنګر یا ښه مورچل ګڼل کیږي دویلو وړ مطلب دا چی دکا بل ښاروال ددی پرځای چی کابل ته دامنیت پر راوستلو باندی خبری وکړی هغه په تکرار سره ویل چی مونږ باید دی تعمیرونو ته برق ، اوبه اونور مدرن وسا یل او ضروریات برابرکړو اوهم با ید ددی نوی ساختمانونو په شا وخوا کی دپلی لاری (بیادره رو ) ښه اسفا لت کړو په هر صورت دا یو انکار نه منونکی واقیعت دی چی غربی خبرنګاران اوراپورجوړونکی خپل راپوررونه اوګذارشات دهیواد دحالاتو په نظر کی نیولو سره تنظموی ، نو دهمدی خبرنګارانو په قول او قرار سره ویلی شو چی ښار په ډیر بیړه سره په وسعت کی قرار لری یعنی دښار لمن په چټکی سره پراخیږی کوم چی دافغانستا ن په تاریخ کی نه دی تر سترګو

شوی حتی دطالبانو په وخت کی اویا په هغه حالاتو کی کوم چی دلته هوا ډیر سړه شوی مگربیاهم په ښار کی ساختمانی چاری نه دی دریدلی تر هغه چی په کال (۲۰۰۱) کی نوی حکومت را مینځته کیږی او هغه هم دراتلونکو د بقا د پا ره کوم چی ددی هیواد خلکو مخکی دژوند اودمرگ سره مخامخ وه .

تاسی اوس هغه قصی او یا هغه پیښی کوم چی په افغانستان اوپه تیره بیا په ځانگړی بڼی سره په کنړکی وجودلری نه یی اوری اونه یی هم لولې اودا ځکه چی امریکا یا نو د خپلو وتلو سره په ولایا توکی ترخپل شا لوی سیاه چا لونه پریښودل او مید یا هم ونشو کړلی چی د هغه ځای قصی اوداستا نونه هغه څه چی دی خلکوته وښیی ، نوپه دی اسا سس دکلونو په تیریدو اود ډیروډیرو ویزیتورانو اودناظرانو دسترگی حال دلیدو اویا دوینا اود اظهاراتو پر بنیا د هغه څه چی د افغانستان د حالاتو په اړه تر لاسه شوی دی د قصی یا دداستان نیما یی برخه دی نه هغه څه چی وشی کړلی موجوده واقیعتونه په بشپړبڼی سره توضیح کړی اویا د خلکو دپوهاوی د پا ره په نشر ورسوی .یعنی دغه اکثر قصی او گذارشا ت احتمالی بڼی سره لری . د ریستروپو (Restrepo) فلمونه هغه رسنی او ابزار دی کوم چی دامریکی د متحده ایالاتو د سرتیرو مبارزه د کنړ په کورینگال کی راښیی نه داچی د هغه ځای ټول موجوده واقیعتونه توضیح کړی اوپه عین حال کی دا نه توضیح کوی چی هغوی یعنی امریکایی سرتیری دڅه د پاره هلته ولی ژوند کول اود څه د پاره جگړی اوجنگ کول ؟

دغه موضوع یعنی دلته او په مینځنی ختیځ کی دامریکی د متحده ایالاتو مشغولتیا اود گرفتاری تعریف په دی معنی دی اویا داسی احساس کیږی چی کله امریکایانو له دغه ځایه څخه بنا پر هردلیل پښی سپکی کړی او ووځی نو وروسته دهغو دوتلو څخه نوموړی سیمه یا محل هیڅ اهمیت نه لری اودا مونږ ته دکنړ په ولایت دکورینگل په منطقه کی کوم چی هلته (۵۴) امریکایی سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړ یو عجیب اوغریب احساس را بخښی یعنی هغه ځای کی چی دافغانستان دنورو برخو په پرتله دلته دامریکا یی سرتیرو مرگ اوژوبله ډیر زیات دی . اودا ددی دپاره چی دغه ځای دامریکایانو دپاره ډیر داهمیت وړ ځای دی ؟ اویا څنگه ؟

اما ولی زمونږ دپاره دغه ځای داهمیت وړ گڼل کیږی ؟ اودا ددی د پاره

چی مونږ دلته (۱۴) کال ژوند تیر کړل اوپه افغانستان کی مو کار کړی . بی ویلو دی پا تی نشی چی دوی یعنی «دانیل او ماټ» خپل زیات وخت دامریکی په پوهنتون کی په دندو لکه چی «دانیل» دپذیرش دمدیر او«ماټ» دباند نیو چا رو داړیکو دمدیر په صفت سره تیرکړی دی ، دوی وایی چی مونږ ته په تتدریجی بڼی سره دا احساس را پیدا شو اویا زمونږ پام دی ته جلب شو چی ولی مونږ باید د حالاتود معلومولو د پاره د دی هیواد لیری سیموته په سفر لاړ نشو که چیری مونږ د خلکو حق غواړو او د دی هم جوګه یو چی دخلکو په ژبه خبری هم کولای شو دا هغه پروژه وه چی زمونږ له خوا پکار ولویدل او سره یوځای شولوچی وګورو په هغه بله خوا کی څه حقیقت پروت دی .

## دریم

دکنړدپیچ ددری یا دوادی په یوه تیره کی داسی یوخط حک شوی دی : (***دلته دنړی پټ اوښکاره سره ټول شوی دی***): د پاکستان اود افغانستان اطلاعاتی آژانسونه یا اسخباراتی استاذی او کارکونکی دطالبانو سره په یونمایشی مبارزه کی سره راښکیل شوی حال داچی القاعده ،طالبان اوامریکایان د(***سی آی ای) په مرسته له ډیر پخوا څخه تر دغه لاندنی خلاص شعار لاندی ( انتخابی سلاحګانی لکه : بی پیلوټه بمب غورځونکی الوتکه په لاسی بمونو سره بمب ګذاری ، انتحاری اودځان وژنی لوازم او وسایل سره په ډله ) بین المللی جهادیا ن اوبیا په لمړی سرکی اعراب اوچیچینیان څه چی دافغانستان په دننه اویا په دی باندی کی وه دجګړی د پاره افغانستان ته راوبلل شو، خصوصاً په کال (۱۹۹۰) کله چی طالبا ن په افغانستان کی واکمن وه. هغه*** وخت *دلته* په کورینګل کی افغانی تکړه تجربه لرونکی سرتیری په شمول دهغو قوماند ا نا نو چی د (سی آی ای ) پواسطه سره تربیه شوی وه او د جنګ جګړی تجارب یی هم درلودل ځای پرځای شول .

***سیمه دهغو کسانو دپاره دلاری په مینځ کی هغسی یو تم ځای وه کوم چی دځنو روښانو دلایلو په نظر کی نیولو سره د پښتنو جنګیالیو د پاره تل ترتله د جګړی په زړه پوری دجنګ میدان وه.***

*دافغانستان د پولیس موجودیت په کورینګل کی دافغانستان دمرکزی دولت دهځی اواند هغه بیلګه دی چی غواړی داسعد آباد یعنی دکنړ دولایت له مرکز*

ځخه چې دپيچ د درې په خوله کې موقيعت لرې دهغه ځاى د حوادثو يا دپيښو روند ته شکل او فورم ورکړي يوله دي هڅو ځخه په نوموړي ځاى کې دسولې اود ملي پخلاينې دشعبې يا داداري پرانيستل دي کوم چې دهغه دروازه تل دخلکو اوبيا په ځانګړې بنه دطالبانو اودهغو کسانو په مخ خلاص دي چې غواړي دسولې اودملي پخلاينې سره خپل وفاداري ښکاره کړي اوله جګړې ځخه لاس پرسر شي . د علاقې وړ مطلب دادي چې دغه دسولې اد د پخلاينې اداره يا دفتر دحزب اسلامي ديوپخواني قوماندان پواسطه سره اداره کيږي کوم چې هغه په کال (۲۰۰۹) کې دافغانستان ددولت سره پخلاو يوځاى شوى دي ، مونږ تير ورې اراده وکړ چې ددغه قوماندان يا دسولې اود پخلاينې دادري له دي مدير سره له نژدې وګورو نو کله چې مونږ د هغه دفتر ته ورغلو نوهغه مونږ دخپل اداري په څنګ کې يوه وړه کوټې ته رهبري کړ، نوکله چې مونږ دغه کوټې يا خونې ته داخل شولو نو په يو عادي تشريفات سره مونږ دهغه طالبانو سره روغبړ وکړل کوم چې هغوى ددي منطقې په لارو او سيمو کې له هغو ډير تکړه اوفعال جګړه مار طالبانود جملې ځخه وه کوم چې مونږ دهغوى دنومونو سره آشنا وو اومونږ ته دحيرانتيا په څنګ کې علاقمندي هم پيداشوچې بايد دهغو سره خبري اتري وکړو . **مونږ تل متعجب او حيران وو چې دلته مونږ ددي منطقې دا هميت د لرلو له مخې جنګيږو ياداچې مونږ پخبله دغه سيمه دجګړې دپاره انتخاب کړي دي ؟** په هرصورت دلته خورايوشمير زيات امريکايي سرتيرې خاى په ځاى شوى وه اودمخالفو قوتونو سره هرورځ جګړه کول ، دوى سره داسې هوډ وه چې ددغه سيمې ځخه تر راتلونکې کاله پورې به وځي مګر هغوى دلته زيات تلفات ورکړل يعنې د کورينګل ځخه دامريکايي سرتيرو (۵۴) مړي يا جنازې امريکې ته وليږل شو دوى د جګړې په لمړې کرښه کې جنګيدل ،نو که چيرې دامريکې دمتحده ايالاتوعامه خلکو په دې باندې پوه شي چې دهغوى سرتيرې دکورينګال په دره کې دجګړې په لمړې خط کې د شديد جګړې په کولوسره خپل ځا نونه دلاسه ورکړې دي نو په هغه صورت کې هغه امريکايي قومانداانان کوم چې په کورينګل کې ددي سرتيرو ته قومانده ورکول دامريکې دخلکو له خوا به ونه بخشل شي .

داستان په دې ساده ګې وه اوهغه داچې په هغه سيمه کې موجوده شد يد

اختلافاتو ته ددرواغورنګ ورکړل شوی وه یعنی واقیعتونه له انظار څخه پټ ساتل شوی وه ، نو په همدی دلیل دهغه سیمی شورشیان د کورینګل سیمه یا دهغه ځای سوق الجیش د پیچ پر دره یا وادی باندی د یرغل اود حملی وړلو دپاره پکار اچولی وه یعنی هغه ستراتیژیکی حیاتی دهلیز یا کوریدور کوم چی دنورستان له ولایت څخه کنړ ولایت ته دغرب نه تر ختیځ اوبیا دپاکستان تر پولی پوری ځغلیدلی وه ددی دهلیز کنترول له دی امله ډیر مهم اوحیاتی وه کوم چی دافغانستان دختیځ سیمی په هر برخه کی د عملیا تونو د سرته رسولو د پاره ستر کمک کول او دهمدی دهلیز په کنترول سره افغانی قوتونه کولی شو چی په سیمه کی خپل فشار زیات کړی یا پردښمن باندی شدید یرغل وکړی ، نو په دی وجهه امریکایی سرتیری دپیچ ددری په مختلفو درو او برخو کی ځای پرځای شوی وه چی افغانی قوتونو سره په شمول دکورینګل د جبهی سره مرسته وکړی یا هغوی ته خوار اوبار اوجنګی مهمات ورسوی.

بی ویلو دی پا تی نشی چی مخکی او اوس هم دامریکی دمتحده ایالاتو داطلاعاتی اداری یاسازمان (سی آی ای) دشبهه نظامیا نوخصوصی ډلی ټپلی دلته په کورینګل کی شته دی چی یولړ ځانګړی او پټ فعالیتونه تر سره کوی دوی په یوه خبری ناسته کی داسی څرګند کړل : مونږ دلته دالقاعدی دشبکی تر سرمشریزه اودځنو باندنیو فرعی خارجی جګړه مارو تر شا د خپلو اهدافو دترلاسه کولو د پا ره روان یوو دغه مطلب د (سی آی اي ) یو مسول مقام کله چی دیویرغل په ترڅ کی دکورینګل په دره کی د ستګیر شوی وه زړه نازړه په شک اوتردید سره څرګند کړ . دلته یعنی کورینګل اود پیچ دره دهغو جګړه مارو دپاره دجنګ ښه میدان ګڼل کیږی کوم چی په دغه سیمه کی بلدتیا لری اوبیا په تیره دپښتنو جنګیلیو ته کوم چی دوی دلته میشت دی .

دیورته یادونوسره سره د کورینګل وادی دامریکایانو په لاس وروسته له یولړ دستګیرو او دخلکو په بندی کولو سره په یوه زندان بدل شو دا هغه مطلب دی کوم چی ځلوار خان په ډاګه کړل ، ځلوار خان وویل امریکا یا نو دسا پیا نو اود ترینګال دمیشتو قومونو ددوه قبایلی قومونو دیوقرن اختلافاتو د لرلو څخه دخپل اهدافودلاسته راوړلوپه مخه هغه قومونه دافزارپه شکل سره پکار وړل اوبیا خصوصاًهغه وخت کوم چی دکورینګل سا پی خلکودلمړی ځل دپاره له نورستان څخه سره دهغه چی د چهارتراشو تجارت په رسمی بڼی سره بند شو

بیځایه شول دچهار تراش تجارت لاتراوسه په سیمه کی دخلکو یوه عادی راکړی ورکړی او بیسنیس دی ، داهمیت وړ مطلب دادی چی په کوریګل کی دساپیانو لاس په مستقیم بڼی سره چهارتراش اود چهارتراشو تجارت ته نه رسیږی نو په همدی دلیل سره هغوی امریکایی قوتونو ته وایی چی مونږ مجبوراً ددی دپاره چی چهارتراش ته لاس رسی پیداکړو نو د شورشیا نو سره مرسته او همکاری کوو .نودهمدی دلیل په نظرکی نیولو سره امریکایی قوتونو ته دابهانه را پیداکیږی چی هغوی ونیسی اوبند یان یی کړی هغه دچا خبره یوسړی دبل سړی د خبرو پر ضد راولاړیږی اوخپل د شمنی ښکاره کوی .



دامریکی د متحده ایالاتو داردو سرتیری د ځلورم فرقی د پیا ده نظام ځلور بریګاردس ، دوه کنډک او «۱۲» ټولګی دامریکی دکلورادو فورت کاسیون پوری تړلی قوتونه د خمکی له لاری د سپتمبر په (ځلورم کال ۲۰۰۹) کی دواټه پور وادی غرونو ته وخوځیدل یعنی هغه ځای ته کوم چی دکنړ په ولایت کی دکوریڼګل دره دی اوهلته افغانی زړه ور طالبان خارجی شورشی جنګیالی یاغیان ځای پرځای دی اودامریکی دقوتونو سره په جګړه کی مقاومت کوی ( رابرت نیکلبرګ/ګیتی )

ځلوارخان دخپل خبرو په دوام کی داسی وویل : چی ما کله ناکله د کوریڼګل

څخه شاوخوا پوستو اوتانو ته تللم او هڅه می کول چی خپل کلیوال کوم چی دامریکایانو سره برمته شوی یا بندی شوی وه راخلاصه کړم خو دهغه ناروا اوخشونت کوم چی دامریکا یا نو له طرفه ددغه دری پرخلکو کیدل ، حتی تر هغه چی دامریکی هوایی ځواکونه دکورینګل ددری په پورتنی برخه د یاکاچینا(Yaka China) دکلی پرخلکو هوایی برید وکړل اودهغه ځای یا دهغه کلی ډیر کورونه یی د خاوری سره خاوری کړل چی دهغه په نتیجه کی دهمدی ځای سپین ږیری او مشران دامریکایانو پرضد خپل خلک جنګ ته را وبلل یعنی خپل کرکه او مخالفت دامریکایانو پرضد اعلام کړل. امریکایانو هم پوهیدل چی دهغو په وړاندی به خلکو دخپل منطقی دآزادی دپاره به هرومرو را جګیږی، دامریکی دمتحده ایالاتو داطلاعاتی اداری یو مسول مقام په یو خبری ناسته کی داسی وویل : ماته دتعجب اودحیرانتیا موضوع دادی چی ولی مونږ دلته یاستو ایا دا منطقه دجیوستراتیژیک له پلو ه ډیر داهمیت وړ ځای دی اویا داچی مونږ پخپله دغه ځای دجګړی دسرته رسولو دپاره مخکی له مخکی ټاکلی دی ؟ همدارنګه هغه دخپلو خبرو په دوام کی وویل چی ایا دلته زمونږ سره په دی دره کی شورشیان هم میشته دی اویا که نه ؟ یا داچی دغه خارجی جګړه مارو له دغه ځای څخه تللی دی دا موضوع مونږ ته مطلق ازمایشی اوامتحانی بیلګه وه اوهغه داچی ایا دغه شورشیان به وروسته د څو کلنو په تیریدو سره به بیا بیرته راشی اویا څنګه ؟

دیادونی بل مهم مطلب داچی دځلوار خان خپل لمسی حاجی متین په دغه وادی کی دشورشیانو یوه ډیر غت قوموانداان او مشر وه هغه په عین زمان کی ډیر بډا اوشتمن وه اوداځکه چی هغه دکورینګل ددری د هما لیی د کاج داونی لرګی دطالبانو د حاکمیت په وخت کی پر پاکستا نی تجارانو باندی خرڅول اودهغه په بدل کی ډیر پیسی تر لاسه کول ، هغه وروسته له دی چی په نوموړی دره کی شورشی ډلی ټپلی نوی سر را پورته کړل (یعنی هغه خلک کوم چی دهغوی دکورنی غړی دامریکی د متحده ایالاتو د هوایی ځواکونو د هوایي یرغل سره چی په نوموړی دره کی ترسره شوی وه اودلاسه یی ورکړی وه په شورش سره لاس پوری کړل ) دهغو سره یوځای شو اود خپل جنګی اویرغلی مهارتونو په سرته رسولو سره په هغه سیمه کی ډیر مشهور شو . دغه امریکا یی مقام دخپل خبرو په دوام کی داسی یادونه کوی او هغه

داچی : مونږ غوښتل چی ددی مشهور   اوبا نفوذ  قوماندان  سره ددی  کال په لمړیو وختونو کی  سره له نژدی  ووینو ادهغه سره  خبری اتری  وکړو  اما زمونږ پلان  له دی نه چی هغه دبی پیلوټه الوتکی   په بمب  غورځولو سره خپل ژوند دلاسه ورکړی وه  شنډ شو اوسرته ونه رسیدل .

دغه امریکایی مقام دخپل خبرو په دوام کی داسی څرګند کړل  چی  مونږ د ځلوار خان څخه  دخلک د مقاومت  په اړه پوښتنه  وکړ چی  ایا دغه  خلکو ته دغه جګړه یا داچی دوی له ځانه مقاومت ښکاره کوی دا لکه دروسانو په مقابل کی چی د جنګ مقدس په نوم سره یاد یدل  دا دامریکا یا نو سره  جنګ  ورته مقدس جها دی ؟ هغه په ډیر ساده  ژبه سره  داسی  ځواب راکړ :  البته  چی د دامریکایی ځواکونو په  مقابل کی  کوم چی دروسا نو پرضد  جنګ  جګړه  وه په ورته بڼه سره  یومقد س جګړه اوجهاد دی .

## څلورم

له دی ځایه څخه په ساده ګی  راپورته کیدل د مبارزی یا دمسابقی نیمایی برخه تشکیلوی،دکابل خلکو لا ویده وه چی مونږ سهار دوخته  په ترږمی کی  مخکی دلمرختلووغوښتل چی له کابل څخه ووځو ،کله چی موله خپل هستوګنځی څخه راووتلو نو په لاره کی زمونږ نظرپه پولیس یا په یو پیره دار باندی چی دلاری په مینځ کی پریو پلاستکی چوکی باندی خوب وړلی  ،شواری  بی پرکال  اوپه اصطلاح سره چارفلق ناست وه ولګید،هغه زمونږ زوړ، زنګ وهلی،او کړوپ پمپرلرونکی تویوتا  موټرته کوم چی ددی هیواد دنورو موټرونو په شا ن  سره ورته وه  هیڅ ونه کتل  او له خپل ځای څخه هم پورته نشو . زمونږ  موټر  په هغه سرک کی چی له کابل څخه جلال اباد خواته غزیدلی  دی   په  حرکت پیل وکړ اودجلال په خوا وخوځیدلو ، داهمغه سرک دی چی دچینانو پواسطه  سره جوړشوی دی کوم چی دهیواد ختیځ ولایتونه دکا بل  سره  نښلوی ،  نوموړی سرک دباروړنکو وسایطو په تګ اوراتګ سره په هغه وختونو   کی کنډ وکپر شوی وه  اوهم  په ساختمانی لحاظ سره  لرونکی د زیاتو پیچومی او ګکلیچونو وه کوم چی نوموړی سړک  پخپل ټیټ اوپاس مسیر کی  دهندوکش دغرونو ترلمن لاره خلاصه کړی اوپرهغه باندی هره ورځ زیات نقلیه وسایل په تګ اوراتګ کی دی   مونږ  دکابل له ښار  څخه راوتلی هغه دتلاشی کولو اخری نقطی یا تم ځای ته ورسید و اویو لږ دمی څخه بیا  په سفر مو پیل کړ، ز مونږ

په لاره کی دموټر دکړکی څخه دسړکونو پر هغه قیمتی ساختمانی وسایلو لکه تراکتور ، کرین ، جرثقیل ، رولر ، ګلیډر ولګیډ چی په لاره کی پروت وه او ځنی افغانی ،غربی اوحتی عربی تجاران په دی لټه کی وه چی دغه وسایل راټول کړی او دپیسو دلاسته راوړلو دپاره چیری خرڅ کړی دوی نه یوازی داچی ددغه قیمتی وسایلو په راټولولو سره بخت وه بلکه د سړک دی غاړی اوهغه غاړه کی دشورویانو له وخته کوم چی دا هم دخارجی قوت دلاس وهنی له علامو څخه شمیرل کیږی را پاتی زنګ وهلی ، بیکاره شوی اوخراب ټانکونه او ترکو (لاریو) او نور اوسپنیز ټوټو په راټولو هم مصروف وه چی هغه را ټول کړی او اغلباً پاکستان ته انتقال ورکړی او هلته دکباړی په توګه په وزن خرڅ کړی .

په همغه سبایی سهار وختی کی ګڼ شمیر ترکونو ،لاری ، تیز رفتار او زیات عراده جات په همدغه سړک باندی په تګ اوراتګ کی وه اوبیا په ځانګړی بڼی سره زمونږ نظر هغه لوړ او جګ په امیلونو ، رنګه ځوندیو او شلشلی داری پاولیو سره سینګارشوی لاری چی خلک هغه ته ګاډی وای راجلب کړ کوم چی دغه لاریی خپل بارونه یا پیټی په کابل کی وروسته له تشولو څخه بیرته خالی په همدی سړک مخ په پیښور روان وه . ددغو سمبال شوی ګاډی په بغل کی د وړو وسایطودقطارونو ازدحام په داسی یوتنګ سړک کی چی دموټروتګ اوراتګ په یوه نری سپین کرښه سره په نښه شوی اودلوړوغرونو دسلسلی له مینځه تیټ اوپاس راتیر شوی دی یو ډیر خطر ناک لاره دی اوبیا په ځانګړی بڼی سره مو ولید چی زمونږ موټر لکه دنورو وسا یطو په څیر په داسی یو سړک را روان دی چی ددی سړک بغل ته یو دتیګو ډیر ټیټ استنادی د یوال د سړک په اوږدو کی تر سترګو کیده اومونږ د ډیر لوړ ارتفاع څخه ورو ورو راتیتید لو ، نو اوس په ډاګه ویلی شو چی ددی هیواد مصونیت زیاتره ددی هیواد په همدی ځمکنی طبعی اونورمال موقیعت او جوړښت پوری اړین دی کوم چی هیڅ باند نی اویرغلګر ځواک دلته نه بریالی کیږی .

زمونږ دتګ دغه دری ساعته مزل پردغه کږه وږه لاره کی ترهغه چی باید ښکلی اوپه زړه پوری جلال اباد ښارته ورسید و ټول په دی تشویش کی موټیر کړ چی پرمونږ باند ی څوک په لاره کی حمله ونکړی ، اوداځکه چی

دغه لاره دترورستانو او دیرغلګرو د پاره په زړه پوری لاره دی کوم چی دوی ځان په یو کړنګ یا ځمځو کی خوندی کوی اوبیا پر موټرو او پر سپرلیو باندی یرغل کوی اویا لاسی بمونه غورځوی لکه چی په کال (۲۰۰۹) کی دحامد کرزي پرورور احمد ولی کرزی باندی تروریستی یرغل وشو او هغه له دی یرغل څخه ژوندی خلاص شو او بیا دوکاله وروسته هغه یعنی ولی «کرزی» پخپل کورکی دننه په قندهار کی ترور شو .

مونږ ورو ورو دلوړو غرونو څخه چی دهغه ارتفاع تر (۴۰۰۰) فوټه پوری رسیده اواری اوپلنی خمکی ته را کوز شولو اوزمونږ سترګی دسړک دغاړی سره په امتداد کی په سیند اود صبر داونی په قطارونه ولګید چی یوبل پسی زمونږ دخط السیر سره را ښکاریده اویا زمونږ دسترګو څخه په منډه تیریدل دیادونی وړمطلب دلته داچی په کابل کی افغانان پر کمپیوټرا او پرتیولنیز رسنیو باندی ډیر تود بحثونه اومرکی کوی یعنی په داسی یو ځای کی چی دلته نه جینس پطلون اونه هم دوبینتا نو دپاره جیل (Gel) پیداکیږی بلکه دلته اکثراً خلکو ډی قیمتی سنتی کا لی اغوندی :نوکیا ( Nokia =تیلیفون همراه) د (Iphon) پرځای اود (3G= دریم نسل د خبری شبکی تکنالوژی) پرځای (EDGE=دیجیتال لاسی تیلیفون ) څخه کار اخلی . دلته د تودخی درجی د کال په شپږو میاشتو کی ډیر لوړ (۱۰۰ درجی پوری ) وی دلته چی بن لادن په درونتیه کی ژوند کول او دخپل مقاصدو دلاسته راوړلو دپاره حتی د بیولوژیکی اسلحی څخه هم کار اخیستل . مونږ بالاخره جلال آباد ته ورسیدو مونږ په چټکی سره د همغه هوایی میدان څخه چی د (SEAL Time Six) ځای پرځای شوی وه تیر شولو

***( دپاکستان د وروستیو پیښو په درشل کی یوه پټه نظارتی تولګی چی د (SEAl Team six)په نوم سره نومول شوی وه او له نن څخه دری کاله دمخه رامینځته شوی وه داسی یو پټ نظارتی ځواک وه کوم چی دامریکی دمتحده ایالاتوحکومت ددغه نظارتی تیم د جوړیدو په اړه ځان په بی خبری کی اچولی وه )*** مونږ په هغه هوایی اډه کی دامریکی د متحده ایالاتو د کارګو الوتیکی ،هلیکوپټری اود بی پیلوتو الوتیکو دجګیدو اودکیناستیدو ( Take off And land)خای په سترګو ولید یعنی هغه الوتیکی چی د مزایلو ډیر درونډ ګولی یا راکټونه دیوی دقیقه څخه په کم موده کی دځان سره آسمان ته پورته

کوی اوبیا کولی شی چی لیری ځایونو ته ګذار ورکړی   یعنی دغه الوتکی ددی جګړی ټول بار مخکی وړی .
په کابل کی د بی پیلوتو الوتکو په اړه ډیر ګرم اوتود بحثونه تر سره کیدل یعنی دوی په کبل کی دخپل مرکو دپاره نه یوائی داچی غنم ژرنده کول بلکه دوی د امریکی د متحده ایالاتود نظامی ځواکونو د هجوم اود یرغل په اړه هم خبری اتری کول او هغه داچی دغه قوتونه خپل دروند ګذارونه څه د کنړ په ولایت اوڅه هم پر پاکستان باندی کوی.
دجلال آباد ښار له ګڼو ګونو څخه ډک او ډیر ښه جمع و جوش وه اوخلکو په مختلفو فعالیتونو اوراکړی ورکړی سره مصروف وه د ښار یا دجلال آباد په پوهنتون کی د هیواد له هر ولایت او سیمو څخه راغلی زده کونکی اود محصلانو اودمحصلاتو شمیر (۱۰۰۰۰) ته رسیدل چی په مختلفو پوهنځیو کی زده کړه کوی ، همدارنګه د ښار په هرګوټ کی مو داسی خلک ولید چی پخپل لاسونو کی د پیسو بنډلونه نیولی وه او دوی افغانی په کلدار اوپه ډالرو سره بدلول کوم چی دګرځندو صرافانو دندی ترسر ه کول چا دچا د کار سره څه غرض نه درلود اوهرڅو ک پخپل کار باندی مصروف وه .
 کله چی مونږ دبیهسود دپُل خواته کوم چی دښار څخه وتلی شمال شرق خواته یی دکنړ ولایت پروت اوله هغه ځای څخه بیا دپاکستان تر سرحد پوری منطقی پراته دی روان اوو نوپه سترګو سره مو ولید چی ګڼ شمیر خلکو مونږته تیری تیری کتل اوپرمونږ باندی دخارجی اتباعو ګمان کول مونږ پخپلو سترګو ولیدل چی جنکي حتی مخکی له بلوغ ځانونه په آبی رنګ بورقی یا چادری کی پوښلی مدرسی خواته روان وه دلته په ننګرهارکی دښونځیو نوم په مدرسی باندی بدله شوی .
هغه سیمی او منطقی کوم چی هلته په فرهنګی لحاظ سره دطالبانو تر یوارخیز ولکی لاندی راغلی دی ، دغه سیمی دامریکایانو او دامریکی د جمعی رسنیو له نظره ډیر بیرته پاتی ، تیاره ، له کرک اوله خشونت څخه ډک اوډیري خلک یی رږیره ور مسلح او قهرجن انځور لری اوداسی انځیرل کیږی چی دوی غیر قابل دسترس او یا په لاس نه راتلونکی خلک دی کوم چی په واقیعت کی دافغانستان دختیځ برخی د خلکو څخه لیری او بیل نه دی یعنی هلته چی خلک یی هیجانی او حماسه زیږونکی دی. اوداځکه چی طبیعت نوموړی سیمی ته

ځانګړی ښکلا بخښلی دی ، داسی یوه سیمه چی په پسرلی کی دهغه شاوخوا ارته دری سمسور او زرغون رنګ جا می اغوندی ، اونی اوبوټی یی په رنګینوشګوفو او غوټیو سره پوښل کیږی چی دسړی په سترګو کی د طبیعت دطبعی منظرو ځانګړی ښکلا جلوه نمای کوی ،د زراعتی پیداوارواوحاصلاتو پریمانی هغه ستر نعمت دی چی د دی خلکو په برخه کیږی ، له بلی خوا څخه بل هغه ښکلا چی په دی سیمه کی دسړی نظر ځانته را جلبوی هغه خروشان اوپه غرمبیدلو سیند دی چی ددی سیمی ترصاف اوشنه آسمان لاندی په ډکو امواجواوڅپو سره بهیږی اودسړی غوږونو ته خوږی نغمی اوآهنګ را رسوی هغه سیمه چی دهغه په آسمان کی ځلیدونکی ،روښانه اوسو ځیدونکی لمر خپل وړانګی ددی سیمی دلوړو غرونوپرڅوکو چی په سپین واورو سره پوښل شوی غځوی او دهمدی لوړو غرونو هغه دکاج اونو ته ګرمی بخښی کوم چی په منظموقطارونوسره غرونوته خاصه ښکلا بخښلی دی ، ددی ځای خلکو ددغه سیند دهغی برخی څخه چي چندان ډیر ژور نه دی دخپلو مواشی اوحیواناتو سره پوری غاړی ته وځی ، ددی سیمی ښځی او انجنو محلی رنګارنګ جامی په تن کوی چی نه یوازی هغوی ښکلی ښکاری بلکه نوموړی دری یا وادی ته خاصه ښکلا ور په برخه کوی .

مونږ بلاخره دهندوکش اودکابل دسیند دبستر یا دغاړی له مزل وهلو څخه وروسته اسعد آباد یعنی دکنړ دولایت مرکز یا ښار ته کوم چی دکنړ دسیند په امتداد کی موقیعت لری اودپاکستان له پولی څخه یوازی څو میله فاصله لری را ورسیدلو اووروسته له دی چی زمونږ ګارد شاوخوا امنیتی څا رنه ترسره کړ دامریکایانو دنظامی اډی یا نظام قرغول څخه چی دهغه شاوخوا دشګو په ډکو بوجیو سره احاطه شو ی وه تیر شولواوښار ته ورننوتلو یعنی هغه وخت چی دهغه ځای خلکو دمازپیښین لمونځ ته تیاری نیول .

دآسعدآباد دښار څخه وتلی په هغه سړک کی چی مونږ دکورینګل وادی خواته روان اوو یعنی دکورینګل دوادی څخه یوازی (۲۰) دقیقی د موټر په مزل لیری وه اوپه لاره کی جنګ اوجګړه نه وه نو په اصطلاح سره دطالبانو هیواد یا قلمرو ته را ورسیدلو .

## پنځم

مونږ دغرمی نه مخکی کله چی دغه ځای ته ورسید لو نومونږ په لمړی

سرکی د حاجی ځلوارخان سره د هغه په کور کی چی د هغه کور د یوغټ ډبری سره نښتی اود دری یا د کورینګل دوادی د سطح څخه لوړ پورت وه ملاقات وکړ. هغه د خپل همدی کور په بغل کی یومهمانخانه هم درلودل چی هلته وخت ناوخت کڼ شمیر کنړیان د مرکی اود بنډار کولو د پا ره همدغه ځای ته ځان رسول مونږ کله چی دغه ځای ولید دځان سره مو داسی پریکړه وکړ چی مونږ باید دلاښه اشنایی دپاره همدلته د کورینګل د شورا دغړو سره باید لیدنه کتنه وکړو ، حاجی ځلوار خان لکه هسی چی مومخکی دهغه هویت په برخه کی خبری وکړ ، هغه د خپل ځلمیتوب په موده کی د حزب اسلامی ګلبدین «حکمتیلر» دقوماندانانو له جملی څخه یوتکړه قوماندان وه ، هغه ومنل چی زمونږ کورب شی او هغه دخپل کوربه توب په منلو سره داسی وویل چی زه دتاسو سره براجتماعی مسلو اوپیښو باندی به خبری اتری کوو هغه زیا ته کړ چی دکورینګل په شوراکی به دوه امریکانوهم پس له دی به ګډون وکړی.

دلته په دی ساحه کی څو کورونه دقوماندانان دی نو که چیری هرغربی ژورنالسیت ددی جرءت لری چی دلته بی دایتلاف دسرتیرو څخه ځای پرځای شی کولای شی ، ددی کور دکړکی څخه دباندی ددری په اواری کی کورونه راښکاری کوم چی په کال (۲۰۱۱) کی دلته دافغان د پوځ د میشته ځای وه .

دلته دامریکایی سرتیرو یوه کوچنی اډه یا دهستوګنی ځای ترسترګو کیده کوم چی دهمدی آدی څخه یوه لاره کورینګل دری خواته غزیدلی وه اود همدی لاری په یوه برخه کی یوتم ځای وه کوم چی هلته د پیچ ددری د نورو نظامی وړو ا ډو څخه سرتیری سره ردوبدل کیدل یا سره پیری بد لول او په دی شا ن ستړی سرباز به دیو څه وخت دپا ره چی بیا بیرته له سره وظیفی ته لاړشی دلته دمی یااستراحت کول .

هغه خونه کوم چی د نا ستی اود خبرو اترو د پاره ټاکل شوی وه نو دی خونی ته ډ لی ډ لی دهغه کلو اوباڼدو سپین ږیری اومشران په ښکلی محلی جامی سره سنبال راتله اومونږ هم دخپل دروند بار یا دشا د کار دوسایلود پیټی سره ساه نیولی ستړی ستومان ځان مودلته رسول او د هغو مسوؤلو اشخاصو سره کوم چي په مستقیم اویاغیرمستقیم زمونږ هیواد وال دهغو پواسطه سره خپل ژوند دلاسه ورکړی کیښینا ستواوسره موخبری اتری کول.

مونږ دمختلفو لارو په نظرکی نیولو سره داسی نقشه ایستلی وه اوداسی پلان

موطرحه کړی وه که چیری وشو کړی چی دغه ډول ناستی اوجلسه ددوی سره په کابل کی هم ونیسو امادادیر غیر ممکن ښکاریده چی داډول جلسه اویا دپخلاینی موضوع په رسمی بڼی اودافغانی په دود اوروغبړ په څیر له هغه نه چی دوی تر دی دری لیسزه پوری سره په مخالفت او جنګ جګړی کی تیر کړی دی په دی آسا نی دغه دماش برنج ږیرو په لرلو سره مقابل لوری ته لاس ورکړی اودخپل دری لسیزو امتیازاتو څخه تر شا شی کوم چی په جګړه کی ترلاسه کړی دی اویا یودبل سره پخلاشی اویا سره کلک لاس ورکړی.

مونږ ددی خلکوداحسا ساتو لوړی کچی ته هغه وخت پام راوګرځید کله چی مونږ ددوی سپین ږیری دهغو په مینځ کی لیدل چی په ډیر ویاړنی بڼی سره زمونږ خواته خوځیده کله چی مونږ دامریکایی سرتیرو د جنګ اوجګړی د(ریسترپو) تر نوم لاندی هغه مستند فلمونه کوم چی ریښتا وه یاکه دروغ وه هغو ته ښودل . له اوس څخه څو میاشتی دمخه کله چی مونږ ددوه کمره مینانو کوم چی دا مریکایی سرتیرو څخه د جګړی په وخت کی سره فلمونه اویا عکوسونه اخیستل پوښتنی وکړ هغوی وویل چی داډول کړنی دکوم فلم جوړونی فراخوان نه دی(هغوی ددی فلمونو د ننداری څخه کوم ځانګړ ی علاقندی راښکاره نکړل ) خپله ځلوارخان یواځي د یو امریکایی قوماندان نوم په یاد راوړل کوم چی هغه یعنی ځلوارخان دهغی سره په کوردینیشن (همکاری) کی وه.

زمونږ په اولنی جلسه او غونډه کی چی د(۲۰۱۳) کال په اوایلو کی ترسره شو په دی غونډه کی دهغه ځای سپین ږیری ا ومشران تریوه زیات حده پوری په یوډول تشریفاتو کی سره بند پاتی وه ، کوم چی مونږ ته چندان ارزش نه درلود بلکه زمونږ انتظار اوهد ف ددی جلسی څخه د خپل ځان پیژند نه او ددوستی اوداړیکو د تا مینولوتو ضیح کول وه چی څرنګه کولای شو چی پخپلو مینځوکی دوستی رامینځته کړو . ځلوارخان دلته په دی غونډه کی دوه لنډی جمله راغلو ځوانو مشرانو ته په دوه ساعتونو کی د نوموړی وادی په آب وهوا ، ځنګلاتو ، او دهغه په لرغونی تاریخ باندی بیان کړ کوم چی دهغه توضیحات زمونږ دددی جلسی داجندا څخه وتلی موضوع وه اومونږ ټول په کوشین (Cushion)کی سره په یوه خونه کی په قطار سره ناست اوو، مونږ دوه نفر چی ددی مستطیل شکل ناستی یا دقطار په سرکی نا ست اوو ،نو ورو

ورو خپل سوالونه مو طرح کړل: هغه ځوانان کوم چې په دی سیمه یا اطاق کی ناست وه درابللو خلکو مشاوره او خبرو ته پام نه وه یاداچی هغوی دخلکو خبری اتری ښه نه وه اوریدلی؟ نو هغوی بی له وقفی دمیلمنو په مخ کی دچایو پیا لی ایښودل اومهمان نوازی کول ، راغلی مشرانو په ډیر خونسردی سره زمونږ دسوالونو ځواب راکول ، اومونږ هم دهغو د ځوابونو ځنی ټکي سره یاداشت نیول ، یعنی هغه ټکی کوم چی زمونږ دراتلونکی مقالو اودلیکونو دپاره دیوریفرنس ارزښت لرل یاداچی زمونږ دنقل قولونو دملا تیر تشکیلول. دافغانی مشرانو دغونډو په مینځ کی دا یو فورملیتی دی اوهغه داچی کله هغوی دیوشی څخه خبر نه وی نو ځان ڃُپ نیسی او پرهغه موضوع باندی خبری اتری نه کوی .

وروسته ددوو ساعتونو دآرام ، ورو اوژور خبرو اترو څخه هغه نوی ځلمیانو کوم چی زمونږ سره په دغه خونه کی نا ست وه دکوربه په یو اشاری سره سمدلاسه هغه ځلیان دمهمانخانی څخه ووتل اویوڅو دقیقی وروسته هغوی بیرته سالون ته داخل شو چی د هریوپه لاس کی بشقا بونه ، په غوریو کی دچرګانو وریتی شوی کباب ، سلات اودښورا کاسی وه یعنی چی مونږ راغلی میلمنو ته ډوډی راوړل ، په دی وخت کی ددی ځلمیا نو څخه دیو ځلمی هلک په یولاس کی چلمچی (لګن) اوپه بل لاس کی یی داوبو ډک کوزه (آفتابه) وه چی دهرمیلمه په مخ کی کیښنا سته اومیلمه خپل لاسونه پریمینځل اوددی خونی په مینځ کی یوه بل ځلمی هلک یو رول یا تاو کړل شوی پلاستیکی د سترخوان دمیلمنو په مخ وغوړول اوپردسترخوان باندی هغه ټول راوړل شوی خواړه کیښودل شو اومیلمنو دډوډی په خوړلو سره پیل کړل ، مونږ هم خپل دیاداشت کتابچی وتړل او په ډوډی خوړلو باندی مو هم پیل و کړل ، مونږ دواړه سره په دی وخت کی سترګی په سترګی شولو اوهغه داچی دغه راغلی میلمنو په لاس سره ډودی خوړل دلته دا دود دی چی خلک دډوډی خوړلو په وخت کی خبری نه کوی اوهم دقبا یلو په دود سره سلسله مراتب ډیر مراعات کیږی ، اوهغه داچی ځلوار خان کوم چی کوربه وه نو دهغه منطقی په دود سره ترهغه پوری ډوډی ونه خوړل ترڅو چی میلمنو ډوډی خوړل او وروسته له هغه چی ټول راغلی میلمنو ډوډی وخوړل بیا نو ځلوارخان په ډوډی خوړلو باندی پیل وکړ په میلمستون کی ښه د مینی اود محبت فضا مسلط وه اوټول راغلی

میلمنو اودهغه ځای مشرانو په خندا او ټوکوټکالو سره فضا ګرم سا تلی وه اوسره خندا کول مونږ هم ددی فضا په لیدو سره هک اوپک شولو چی دلته څه ډول رسوم اوراواج دی ، په هرصورت مونږ د خپل کوربه اوددی ځای دمشرانو څخه مننه وکړل چی مونږ هم دلته را دعوت کړ شوی وه او په مکرر بڼی سره مو دهغو څخه کوم چی د بل لیدو کتو د پا ره وخت سره وټاکل شو مننه وکړل . اوتر بل لیدو پوری مونږ دهغو سره خدای پاما نی وکړل.

کله چی مونږ دمیلمستون څخه راووتلو نو دپوره مصونیت دفضا په ساتلو سره په چوپ اوچوپتیا مو داسعد آبا د په لوری وخوځیدلو او وروسته له شپږو ساعتونو څخه کوم چی په لاره کی مویودبل سره خبر نه کول مازدیګر یعنی هغه وخت چی دکابل آسمان خپل خیره نارنجی رنګ په تتدریجی بڼی سره په سوله ایز ارغوانی رنګ سره بدلول کابل یا خپل هستوګنځی ته راورسیدلو .

یو مو په لاره کی دخپل ګوشکی (headphones) سره موسیقی اوجاز اوریدل اوبل مودخپل پکول اود کا میزی پطلانه (shalwar Kameezes) تر لاندی فلزی دروند د مکروفون کبل تیرول .

وروسته بیا په هره وروستی غونډو اوجلسو کی کوم چی په یو کال کی څو واره دایریدل نو مونږ به په ډیر چوپتیا سره پرجهاد باندی په خبرو پیل کول او هغو دوه نفرو ته مو غوږ نیول کوم چی هغوی کلونه کلونه په قندهار کی دطالبانو سره په نژدیوالی او اړیکو کی تیر کړی او دهغو قصی مواوریدل کوم چی هغوی دجهاد پرموضوع داسی رڼاو اچول چی مونږ په کال (۱۹۷۹) کی خپل جهاد دشوروی اتحاد پر ضد پیل وکړ اودهغه ځواک سره مو لس کاله جهاد وکړل په جلسه کی سپین ږیرو خپل خبروته دوام ورکول او په ډیر غرور اویاړنی سره داسی توضیحات ورکول چی په یوه مذهبی او متدین ټولنه کی خلک په پوره درک اواحساس سره جهاد کوی لکه هغسی چی مونږ هریو جهاد وکړ کوم چی اوس زمونږ کارنامی په افسانی اغوښتی دی او هغه لا څه چی دهغو بچیان اوس په منطقه کی داسی څرګندونه کوی چی دا زمونږ پلرونه وه چی دروسانو سره جنګیدل اودهغو ډیری ډیری سرتیری یی له مینځ ویوړل اودهغو له شره مو نږ یی خلاصه کړلو .


دغونډی په جریان کی ځلوارخان کوم چی دهغه دنوم معنی په پښتو ژبه کی زړه ور مفهوم لری بخپل ځای کی ډیر آرام اومتواضع ناست وه مګر هغه

په ډیرو مواردو کې په یواځې بنې سره برخه اخیستل اومونږه یې هڅولو چې خپل کارونو ته رسیدګی وکړوُ هغه دخبرو کولو په وخت کې ددی بشپړ توان اوصلاحیت درلود چې په ځنو ځا نکړی او حساسو موضوعا تو با ندی بی له دی چې د نور ومشرانو ته پام واړوی خبری اوتبصره کول . هغه کله ناکله یواځې اویا دخپل ګروپ سره یوځای زمونږ بغل یا څنګ ته کیښنا ستل ، دهغه یو بل هیمشګی عادت داوه چې هغه دخبری کولو په وخت کې د خپل لاسونو په حرکاتوسره خپل مخاطب راپارول حتی چې هغه دخبرو کولو په وخت کې زمونږ په زنګانه باندی ځپیړی وارول اومونږ یی راویښول چې با ید دهغه خبری ته غوږ شو ، ځلوار خان کله ناکله ټوکی اوطنزونه هم ویل لکه چې هغه دهغه منطقی یوډیر مشهور طنز داسی بیان کړ: (هغه وویل چې یوسړی له ښاره وتلی په یو لیری سیمه کی دیوموټر انتظار ایستل کوم چې وروسته له څو ساعتونو انتظار څخه دهغه سترګی په یو موټر ولګید کوم چې چا د هغه دمیرمنی سره جنسی اړیکی تامین کړی وه نو له همدی امله هغه هک اوپک شو ) یاداچې هغه زمونږ څخه سوالونه کول حتی که چیری ترجمان هم موجود وایی، هغه چې کله په خبرو باندی پیل کول نو هغه مونږ سره مستقیماً سترګی په سترګی کیدل اودهغه مطلب له دی سترګو کید لو څخه داوه چې مونږ باید دهغه دخبرو په مفهوم باندی پوه شو ، سره دهغه چې ځلوار خان لوستلی نه شو خو دهغه علاقه په دی کی وه چې مونږ باید دهغه خبری زیات یاداشت وکړو یعنی ډیر ولیکو .

هغه یعنی ځلوارخان دخپل توانایی اودخپل قابلیت په ډیر هسکه څوکه کی کله چې هغه خبری کول نودخپل خبرودلاپو هاوی دپاره اویا دخپلوخبرو دمستند کولو دپا ره دجهاد څخه روایتونه هم کول هغه وخت کوم چې هغه په دی سیمه کی قوماندان وه اود شوروی اتحاد دسرتیرو په مقابل کی جهاد کول ، دهغه په قصو کی دکنړ دولایت ځنی قصی هم شامل وه هغه کله چې دروسانو په مقابل کی دخپل جنګ جګړی قصی کول نوځنی ځانګړی نقطی ته هم اشاره کول لکه دعملیاتونو نیټه ، دمړوشمیر ددواړو خواو څخه ،دمرمیو دشمیر اټکل او داسی نور .....

لسیزو مخکی ځلوارخان دهغو قوماندانانو له جملی څخه شمیرل کیږی چې دپیچ په دره کی دلمړی ځل دپاره اوپه افغانستان لمړنی شورشی سیمه کی دی

پر افغانی سرتیرو باندی کوم چی دهغو ترشا شوروی سرتیری ولاړ وه ګولی وچلول په هرصورت دلته په افغانستان کی پیچلی اونخرګند حالات اوشرایط ځنی جزی یی یا لږه کی پیښی را زیږوی کوم چی دچا په اراده کی نه وی ، لکه چی اوس وروسته له (۳۰) کالو جنګ جګړی څخه امریکا یا نو په ورته بڼی سره حالاتو اوځانګړی شرایطو سره مخامخ شوی دی ، اوهغه داچی دیومنل شوی مذهبی رهبر لکه دملا کریم رانیونه اودستګیری بی له کوم تاکلی سبب او مدرک پخپله دی منطقه کی اور ته پکی وهل دی یا د نورو حوادثو درامینځته کیدو دپاره دلاری آوارول دی اوبس.



Matt Trevithic

ځلوارخان هغه ډیر نومیالی اوراوتلی مهم شخص دی کوم چی هغه دپیچ په دره کی دشوروی سرتیرو سره په جګړه کی چی له تیټ اوله پاسه پرهغو ګولی چلول او هم دکنړ څخه ددفاع په سنګر کی هغه وتوانید چی شورویان له کنړ څخه دجلال آباد په لوری ترشا کړی ، ځلوار خان په هغه وخت کی د حزب اسلامی خالص له تکړه قوماندانانو څخه وه ، مولوی محمد یونس خالص دحزب اسلامی خالص یو ډیر برجسته اوراوتلی جهادی بنسټ ایشودونکی مشر وه کوم چی هغه د ریګن سره په کال (۱۹۸۸) کی له نژدی لیدلی اودهغه سره

دافغانستان په اړه خبری اتری کړی دی ، هغه یعنی یونس خاص په (۲۰۰۶) کی دعمر دډیر زړښت له امله له دی نړی څخه سترګی پټی کړ ، هغه مخکی له دی چی مړ شی خپل پلویانو ته ویلی وه چی باید دامریکانو بر ضد جهاد ته ملا وتړی .

هغه وروسته دشورویانو دماتی څخه په کال (۱۹۹۲) کی دافغانستان په داخلی جنګونو کی ونډه وانخیستل ، هغه د طا لبانوراتګ اودهغو حکومتداری ته (۱۹۹۶-۲۰۰۱) ډیرعاشقانه تمایل درلود.



Matt Trevithic

دهغه منطق په هغه دوره کی په عملی لحاظ دلږکیو (اقلیتونو) په اړه اوبیا په ځانګړی بڼی سره په نړی کی ښځه په یو هیواد کی دوزخ ته ډیرنژدی شی منل کوم چی دهغه په نظر دځو لسیزو څخه را په دی خوا په اسلام کی خپل ریښی ځغلولی دی یعنی هغه ښځو ته اودښځو ازادی ته ډیر بدبین او هغه یی ددزوخ اهل ګڼل .

هغه په یو خبری ناسته کی وویل : مونږ له رادیو څخه اخبار واورید چی یو ګروپ ښه خلک چی پرقران باندی ډیر باور لری په کابل کی واک تر لاسه کړ اوټول جنګ سالاران او مجاهد ین یی له کابله شړلی دی،لهذا مونږ دداسی

خلکو سره چی اوس به افغانستان کی واک ترلاسه کړی دی څه ستونزی نه لرو ، هرهغه څوک چی قران منی اودهغه نصایحو ته غوږایږدی هغه زموږ دوستان اوهغو چی قران نه منی زموږ دسر دښمنان دی .

هغه دخپل خبرو په ادامه سره زیاته کړ چی اوس دعدالت اودانصاف وخت دی نه دغلا اونهدوژلو وخت . هرهغه څوک چی بدکړنی وکړی دوی به دهغه سره دشریعت پر اساتس به چلند وکړی ، طالبان اسلامیستان دی اواسلامی فکر کوی ، زموږ دندی او وجایب دقران دمندرجاتو په رڼا کی ترسره کیږی اوهر هغه څه چی اسلام حکم کوی هغه زموږ دمنلو دی .

ځلوارخان زیاته کړچی موږ باید ډیرقوی اواحتیاطانه وړاند وینی یا پیشبینی ولرو اوهغه داچی په کورینګل کی هغسی ورته مشکلات کوم چی دافغانستان په نورو لویو ښارونوکی ترسترګو کیږی دلته نه لیدل کیږی اوداځکه چی دلته موږ دیو بامیل یا دیو کورنی په بڼه څنګ په څنګ ژوند کوونوځکه موږ کوم پرابلم نه لرو ا و زموږ اړیکی دطا لبا نو سره ډیر ښه دی ځکه چی زموږ ایدیولوژی او نظریات سره شریکه دی یعنی هغو لمړی مصونیت یا آرامی پلی کوی اوبیا وروسته دیو قوی اقتصاد دتامین په لټه کی کیږی .

هغه پخپل خبرو کی دامریکایانو په اړه په ډیر محتاطانه بڼی سره اظهارنظر وکړ: اوهغه داچي په کورینګل کی دامریکایانو په باور جنګ جګړه ختم شوی دی یعنی نه یواځی په علی ابادکی جګړه نشته بلکه په نوروځایونوکی هم جنګ تمام شوی اما د ځلوارخان له نظره جنګ لا نه دی تمام شوی اواوس هم دشورشیانو له خوا دافغانستان دحکومت پرضد جنګ روان دی اوکورینګل هم له دی امرڅخه دباندی نه دی یعنی دلته هم جنګ روان دی .

دځلوارخان په قول له دی نه چی کورینګل دافغانستان دنرو برخو څخه یولیری اوبیل شوی سیمه دی نودهغه په منطق ولی امریکایان افغانستان ته راننوتل او دلته راغلل اود نورو هیوادونو سره په ګډه زموږ هیواد یی ترخپل ولکی لاندی راوستنل هوکی امریکایان دلته ددی د پاره راغلل چی اوسما بن لادن د ستګیر کړی اودلته دخپل خوښی یو حکومت جوړ کړی ، هغه وویل چی موږ نه دبن لادن سره څه کولی شوانه هم پر امریکایانو باندی یرغل ، نو دهمدی دلیل په نظرکی نیولو سره موږ مجازات کیږو ، اوهغه داچی بن لادن دلته نشته ، نو امریکایانو دلته څه کوی ؟ اوولی دلته راغلی دی .

*مونږ پخپلو تیرو غونډو اوجلسو کی دامریکایانو راتګ افغانستان ته اودهغو پرمیشته کیدو باندی سره ډیر بحثونه اوخبری اتری و کړل. اما دلته ځلوارخان خپل دریخ له ډیر شخړیز او له ربړونکی شکل څخه نسبت دی ته چی خپل نارامی په ډاګه کړی په عمدی بڼی سره واړول او کله چی په خبرو باندی پیل وکړ هغه پرځنی ډارونکی موضوعاتو باندی خبری وکړ کوم چی زمونږ په حال دودی احسا سا تو سره اړینی وه امازمونږ دبحث موضوع نه دلته اونه هم دهیواد په کوم بل ځای کی پر ډار اوپر ډاریدل باندی نه وه او داځکه چی تولو ته دا معلوم دی چی پښتانه هیڅکله نه ډاریږی لکه هغسی چی په پښتنو کی ډیر یومشهور قصه دی چی وایی :« **پښتنو حتماً باید ډزی وکړی !**» نو که چیری یوپښتون ډزی ونکړی یادډزو کولو څخه وډارشی نو دهغه خور به دهغی سترګی ته ونه ګوری ، یا دهغه مور دهغه له پیژند ګلوی څخه به ډډه وکړی او یا دهغه ښځه به نور شرم او پیغور ونه زغموی یا داچی ددی وادی یوه بله سپین ږیری مشر داسی وویل: **احساسات دښځو دپاره دي !***

« زه داسی فکر کوم چی په دی وادی یا دره کی ځنی وختونه هریو دهریو څخه ډاریږی ، امریکایان له طالبانو څخه اوطالبان له امریکا یانو څخه ،هغه زیاته کړ چی یوه ریښتانی ډار په دی وادی کی ډار له هلیکوپتر څخه دی چی پاس ددی دری په فضاکی الوزی اودهغه دالوتلو له غږسره خلکو ته ډار راپیدا کیږی او پخپل بمبارد سره دوست اودښمن نه پیژنی هغه دطالبانو په اړه تقریباً غلی اوغیراحساساتی خبری کول . »

***له ریستریپو (Restrepo) څخه تعریف اوتوصیف په واقیعت کی له خلکوڅخه دامریکایانودنه معلوماتواویا دکم معلوماتوڅخه عبارت دی یعنی امریکایانو ددی منطقی دخلکو په رسوم اودودونو با ندی بشپړ معلومات نه لری دوی یوائی جنګیږی اودلته مهم شی دادی چی دوی په عمومی توګه سره له هرشی څخه بی خبراو یا پخبله ځان په بی خبری کی ساتلی دی یا داچی دوی خپل« چاپیریال ته نه ګوری » یا دا چی امریکایانو تراخره سره یوه نشول چی دوی د چا سره جنګیږی ، یا څوک د دوی سره جنګیږی ؟ ځلوارخان په کتګوری بڼی سره داسی اظهار نظر وکړ اوهغه داچی دلته یعنی په کورینګل کی ځوانان او سپین ږیری او حتی ښځی په وسلو سره سمبال دامریکایانو پرضد جنګ کوی یا پرامریکایانو باند یرغل ور وړی***

هغه امریکایانو ته په خطاب کی پر خارجی جهادی ډلو تپلو با ندی کوم چی دهغوی په ادعا سره دلته په دی وادی کی کله نا کله یرغل کوی وخندل اوزمونږ څخه وغوښتل چی په دی با ندی ښه ځان پوه کړی چی دلته څرنګه کیدای شی چی پردی خلک یا بیګانګان زمونږ په دی وادی کی ژوند وکړی اوزمونږ پر برخلک باند لوبی وکړی اویو څه نقش ولوبوی ، هغه زیا ته کړ هوکی دلته خارجیان شته دی اما هغوی زمونږ دوادی څخه لیری په لوړو ځایوږنومونږ ته په نژدی ساحه کی ممکن ځای پرځای اووسی.کوم چی دهرچا له خوا ممکن دی چی هغوی ونه لیدل شی دوی شاید چی ځنی وختونه وجنګیږی اما دځنو شاهدانو په قول سره هغوی په ځنو نورو دندو اوکړونو سره بخت دی او اغلباً د ګډی همکاری څخه ډډی کوی .

هغه په ټینګار سره ددغه بی خبری اودطالبانو په اړین دیو څه کم معلوماتو په اړه وویل : دهغوی په هکله یعنی دطالبانو په اړه څوک پوهیږی چی هغوی چیری دی اوبیا امریکایانو څه پوهیږی چی طالبان چیری دی اودامریکانو په څه شمیر سرتیری دهغوی د میند لو په لټه کی له خپل څه شمیر فرعی اډو (پایګاه ) څخه دی اویا امریکاین دهغو دمیندلو په اړین څه لاری او وابزار په لاس کی لری ؟ که چیری زه دهغوی په هکله فکرو کړم نوممکن چی داسی ووایم :ممکن چی هغوی یعنی امریکا یی سرتیری دلته زمونږ په دغه دره یاوادی کی تر زر(۱۰۰۰) نفرو پوری اووسی اوتقریباً شاید چی (۷) فرعی اډی ولری کوم چی هغوی کله ناکله خني کورونه ترخپل څارنی لاندی نیسی اوبیا خپل نظامی عملیاتونه ترسره کوی اوډیر ستونزمن بریښی چی دهغوی په ریښتنی شمیر باندی پوه شو اما هغسی چی زه فکر کوم ممکن چی دامریکایی سرتیرو شمیر دلته په دی وادی کی تر (۳۰۰) سرتیرو پوری ورسیږی.

کله چی مونږ دهغه څخه پوښتنه وکړ چی ددغه سرتیرو خواړه اوخوراک له کوم ځایه څخه راځی نوهغه په ځواب کی وویل **چی د خدای له طرفه !** مونږ دخپل سر په اشاری سره وویل له پاکستان څخه! هغه په دی وخت کی په ډیر خیره اوژور پا ملرنی سره خمکی ته کتل .

شپږم

کله چې مونږ ددوهم ځل دپاره دځلوارخان سره ولید هغه دځان سره یوسړی راوستی وه اووروسته له روغبړ څخه هغه ځبأ راوستی سړی مونږ ته معرفی کوړ او دمعرفی کولو په وخت کی مونږ ته وویل چې دا سړی ځما دافاربو او خپلوانو څخه دی ، نوکه چې منونږ دغه سړی ته یو څه ځیرشو ،نومونږ ولید چی دهغه پر سر یو ګرده نصواری رنګ پکول اودهغه عمر تر دیرشو کلنو پوری اټکل کیده ، اوپه عین زمان کی دغه سړی په دغه پورتنی صفا تو سره مونږ ته یوڅه لږ آشنا غوندی ښکاریده اویا مونږ داسی ګمان کاوه چې دا سړی موچیری لیدلی دیُ ، خو په هرصورت مونږ ته داسی یو آنځور راپیدا شو چې دا سړی هسی ساده سړی نه دی بلکه ډیر ماهر اوتربیه شوی جګړه مار او ډیرظالم سړی وژونکی یا جلاد دی اودهغه دغټو خیانتکارعجیبو غریبو سترګو څخه کوم چې ددوه امریکایانو سره لیدنه کتنه کول مونږ ته داسی معلوم شوچې هغه مونږ ته ډیرځیر ځیر کتل او په دی پوه شو چې مونږ هم دلته یاستو هغه په ریښتیا سره چې ډیر یو قوی جنګی اویا یو رسیدلی اوماهر جنګی قوماندان په همدغه دره یا وادی کی یواځنی سړی وه چې دلته راغلی وه هغه څه چې ځلوارخان دهغه په هکله ددی دری دمشورتی شورا سره په ملاقات کی خبری کول .مونږدځلوارخان سره په اسعدآباد کی دیوی زاړه اوقدیمی تعمیرپه څلورم پوړکی په یوه کوټه کی سره ولید چې په دغه سیمه یاطاق کی شاوخوا توشکی اوبالښتونه چې سړی له هغه څخه دناستی په وخت کی کاراخیستل ترسترګو کیدل .زمونږ لید نه یا زمونږ ملاقات له دی نه چې په لاره کی سخت جګړه او جنګ وه تقریباُ دوه ساعته ناوخت پیل شو .

ځلوار خان دخپل ناوخت رسیدو له امله کوم چې داول ځل دپاره ددی کال په جریان کی راپیښ شوی وه د جلسی له ګډون کونکو څخه بښنه اومعذرت وغوښتل ، هغه دچا په خبره زمونږ دلیدلو ډیر لیوال وهُ په هر صورت هغه مونږ سره په خبرواترو پیل وکړ او دخبرو په وخت کی ځنی ټوکی اوټکالی یا ځنی طنزونه همو ویل اوبیا په ځانګړی بڼی سره ځنی جنسی او سکسی قصی هم کولی ٓغه سړی چې دهغی سره راغلی وه نو کله چې ځلوار خان پر ښځو او پاندی خبری اتری کول یا ځنی سکسی توکی ټکالی ویل نه هغه سړی ډیر زیات په لوړ آواز سره خند ید ل اومونږ لکه د مخالف لوری څخه د راوړل شوی سرتیرو په شان سره ګپ وشپ لګول اوهغه داچی د لسیزی په تیریدو

سره هغه سرتیري خپل اخري ګولی هم ګذاروکړ. مونږ دتفریح په وخت کی چی په ژوند او په راتلونکی برخه لیک باندی خبری اتری کیدل یاداشتونه وانخیستل اوهم دلته کله چی مونږ سره مرکی کول نو د کورینګل ، امریکایانو او پر طالبانو باندی مو هیڅ خبری ونکړل . ترهغه چی دغرمی ددودی خوړلو وخت را ورسیدٌ داخلی دلته لکه دهغه لمړی میلمستیا په سیر ډیر شانداره میلمستیا نه وه دلته مونږ په غرمه کی سره سری کړی ماهیان خوړل اونمږ دماهیانو دخوړلو په وخت کی دهغه کبانو دنری او قار مانند هډوکو سره یوځه ستونزی درلود کوم چی زمونږ دغاښونو په مینخ کی ننښتل او مونږ هڅه کول چی هغه دماهیانو نری هډوکی دخپلو غاښونو له درز څخه راوبا سو اما نور میلمانه او ښاغلی ځلوار خان زمونږ دغه کړنی ته پام نه اړول او ځان نالیدلی اچول ،دیادونی وړ داچی زمونږ دغه د ماهی خوړلو انځور دامریکی په نظامی ورځپانو کی دننه په چاپ هم ورسیدل آووسیعاً خپور شو .

دغرمی ددوډی خوړلو وخت راورسید اومونږوروسته دغرمی ددوډی خوړلو څخه د یوځه وخت دپاره دمه وکړل اوپه همدی وخت کی هغه جنګیالی چی دلته رغلی وه زمونږ سره سترګی په سترګو شول او مونږ ته دیو غټ سوال د کولو موقع رابرابرشول، بحث اوخبری اتری ختم شو او دملیمستون په فضا کی دیو څه مودی دپاره آرامی اوچوپتیا حاکم شو، په دی وخت کی بیا زمونږ دزړه ضزبان یو څه اوچت شول اومونږ دواړه دسر په اشاری سره دی موافقی ته ورسیدلو چی یو حه باید وکړو ، ماټ (Matt) دځلوار خان سره څنګ په څنګ ډیر نژدی ناست وه اوکله چی ځلوار خبری کول نو په ټوکی او ظرافت سره دمات په زنګانو کی څپیړی واورول او توکی ټکالی کول اوپخپلو خبرو اومرکو کی داسی راڅرګند کړ چی نن ړلته هوا ډیر ښه دی اومونږ غواړو چی دلته په دی صافه هوا کی خبل فکر او ذهن ته یو څه ارامی ورکړو نو په همدغه وخت کی مونږ له ځلوار ځان څخه پوښتنه وکړل چی ایا مونږ کولی شو چی کورینګل وادی ته لاړ شو؟

ځلوار خان په دی وخت کی یو اوږد ساه واخیستل او وروسته له ډیر اوږد ځنډ څخه کوم چی هغه دخپل ځان سره فکر کول مونږ ته وویل : زه د تا سو ددی غوښتنی په اړه دکورینګل دشورا دغړو سره به مشوره وکړم ، اوهغه په عین حال کی زمونږ څخه پوښتنی وکړ چی تاسی د کوم ضرورت پر بنیاد

غواړی چی کورینګل ته لاړ شی ؟   هغه د خپل خبرو په دوام کی زیاته کړ :
چی زه ستاسو ددی غوښتنی په پام کی نیولو سره به دکنړ دولایت دطالبانو د
نوماند والی سره به هم خبری وکړم اودتاسو دپاره دهغه څخه به اجازه واخلم
چی هغه ایا تاسو ته اجازه ورکوی چی کورینګل وادی ته ورننوځی اویا نه ؟
مونږ ته دالامیدواری پیدا شو اوهغه داچی ځلوار خان دطالبانو دوالی سره له
نژدی پیژنی نو هرومرو دهغه اجازه تر لاسه کولی شی !

**اته ورځی وروسته ځواب راغی !**

## اووم

وروسته دځواب دتر لاسه کولو څخه د پیچ د دری په لوری مو حرکت وکړل ،
دلاری په اوږدو کی ځلوارخان دموټر دډریورسره دهغه ځای یعنی دکورینګل
ددری په محلی ژبی با ندی خبری کول یعنی په هغه ژبه چی هلته یواځی څو
زرو نفر په همدی ژبی خبری کوی او مونږ چی په ډیر زحمت سره پشه یی
ژبه زده کړی وه کوم چی دهمدی کورینګل ددری دی محلی ژبی سره یو څه
قرابت لری اما له بده مرغه چی مونږ ابداً د ځلوارخا ن په خبرو کوم چی
هغه ددریور سره کول نه پوهید لو چی دوی سره څه وايي .نو کله ناکله مو
دځلوارخان څخه په یو اویا په بل شکل سره پوښتنی کول چی تاسی دموټروان
سره مو څه ویل ؟ ځلوار خان وویل چی مونږ د دغه دری اود دغه سیمی پر
طبیعت اودهغه پر ګڼ ځنګلونو با ندی خبری اتری کول اویوبل سره مو ویل
چی دغه ځای ددی خلکو دژوند دپاره ډیر یو ښه ځای دی او داپخبله د طبیعت
رواداری دی چی ددی خلکو په نصیب شوی دی.
دیادونی وړ مطلب دا چی مونږ دپیچ ددری دسیند داوږداودهغه دګګلیچ مسیرپه
تعقیبولواو په تللوسره یوڅه ژوراوتیټ سیمی یعنی همدغه وادی ته راورسیدلو
اودامریکایانو د هغه خوشی کړل شوی مقر یا آډی څخه کوم چی د هغه نوم
دبیلګی په شکل سره دکلفورنیا دهونیکرمشیګن په سمبول ښکلی شوی وه له
هغه مقر څخه تیر شولو ، یعنی له هغه اډی اوقرارګاه څخه کوم چی دهغه
اډی دساختما نونو څخه یواځی دهغه اسکلیت را پاتی وه اونورشیان یی دافغانی
نظامیانو پواسطه سره دهغه ځای پرکلیوالو باندی خرڅ کړل شوی وه کوم
چی هغه کلیوال ددی اډی دراپیرودل شوی ساختمانی شیا نو پواسطه سره د

خپل ځان دپاره دهستوګنی کورونه اودخپل مواشی او دحیوانا تو دپاره غوجل او دچرګانو د پاره مرغانچی جوړ کړی . په هرصورت مونږ د خپل سفر په دوام سره د بارکنډی (Bar Kanday) له محل ځخه یعنی له هغه ځای ځخه چی په لمړی ځل سره دشوروی اتحاد پرسرتیرو باندی له همدی ځایه ځخه دری لسیزه مخکی ډزی شوی وه تیرشولو او هلته مو ولید چی دری کوچنیانو دیو قبرستان په مینځ کی چی هرخوا دافغا نی سرتیرو د مړو زیږ شناختی د هغه تا زه مړوتر سترګو کیدل کوم چی دامریکا یا نو سره په مقد سه جګړه کی خپل ژوند دلاسه ورکړی او اوس په دغه قبرستان کی سره ښخ شوی دی ومو لید چی نومووړی هلکا نو سره کریکټ کول .

بالاخره مونږدخپل سفرپه مسیر کی یوه وړه کلی یا بانډه ته چی د کوردیګال (Kardigal) په نوم سره یادیدل اودکورینګل ددری په خوله کی موقعیت درلود را ورسیدلو یعنی هغه ځای ته کوم چی تر (۲۰۰۶) کال پوری دچهار تراشو دخرڅلاو یه یو ډیر مشهور مارکیټ باندی شهرت پیدا کړی و وه او بیا دحامد کرزی دامر پواسطه سره دغه مارکیټ وتړل شو اودا ځکه چی دچهار تراشو راکړی ورکړی اوخرڅلاو د شورشیا نو تر مستقیم څارنی لاندی ترسره کیدل.

مونږ ددوه اولسوالیو له مینځ ځخه تیر شولو ترڅو چی مو دافغان یونظامی تم ځای یاقرارګاه ته بی له دی چی موکوم شی ته پام شوی وی یادکوم ستونزی سره مومخه شوی وی ورسید لواودا په دی وجهه چی مونږ دغتی ګوتی دقانون (**قاعده سرانګشتی = یعنی هغه رنګه قوانین ته ویل کیږی کوم چی دهغه ځخه مراد دیو موضوع په اړه دیو پوښتنی ډیر چټک اوتقریبی خواب ترلاسه کول دی نه هغسی ډیردقیق او داطمینان وړ ځواب....ژباړونکی**) په نظر کی نیولوسره کوم چی مومخکی دهیواد دیوسپین ږیری ځخه، یعنی دهغه چا ځخه چی غیرمسلح وه اوپرطالبانو باندی خندیدل زده کړی وه . دغه سپین ږیری کوم چی په دی اطاق کی زمونږ سره نا ست وه ډیر اوږد زیره درلود چی د ملا دږیری ځخه هم اوږد اوغټ وه ، دلته یو تراژید یکی سوؤتفاهم سره د یو متلون مزاج سلمانی سره کوم چی په کابل کی دږیری لرونکو سړو ځخه ډیر کرکه لرل دهغه سره مخامخ شولو کوم چی په نتیجه کی مټ (Matt) خپل ږیره یوڅه لنډه کړ.

**( په دی مینځی کی هغه په انګلیسی ژبه سره ډیر ناری سوری ووهل اوهغه بیا بیرته خپل ځای ناستی را وبلل شو یوڅه واین (wine) وڅښل اوبیا یوڅه ونڅیدل )**

اما د **(دان)** دسینی اوږدوالی لاهمغسی پراخه وه ،مونږ هم دهغه ځای دخلکو د هریود کالی اوږدوالی یودبل سره پرتله کړل :مونږ داسی انګیرل چی مونږ پرون په کابل کی اوو ، اومونږ له ډیری مودی راهیسی ځان نه وه پریمینځلی یا شاور مو نه وه اخیستی ! اوپه عین وخت کی زمونږ پام دځلوارخان ارزان قیمت دلاس ساعت اودهغه دغاښونو مسواک ته واوړیدل مونږ هڅه کول چی دسفردپاره دخپل دپښتو دژبی ټون یوڅه نورهم ښه کړو، مونږ مخکی له هرڅه هغه ټوکی دافغانی پوځ دتلاشی دادی څخه په ډیر آسانی سره زده کړ ل اوهغه داچی بهترین میکانیزم دیوشی د خنثی اومهار کولو د پا ره دهغه شی وضع له ډیرنژدی څخه څارل دی ، نو کله چی هغوی په ډیر ځیر سره مونږ ته وکتل نو مونږ دهغو څخه دادرخواست وکړل اوهغه داچی که چیری تا سی غواړی چی زمونږ سره خپل ټوکی اوټاکلی شریکه کړی چی سره یوڅه وخاندو نو بهتر ه دادی چی زمونږدتیلفون شماره دځان سره یاداشت کړی. په هرحال دپیچ ددری څخه سړک دنورستان په طرفه غزیدلی دی یعنی هغه ځای ته کوم چی دهغو خلکودسراودږیری ویښتان طلای زیږبخن اودهغوسترګی آبی رنګ لری اودهغو دپښتودخبرولهجه ځانته ځانګړتیاوی لری او دادهغو خلکودپیژندنی هغه مشخصات وه کوم چی مونږ هغه دافغانستان په افسو نوی قصو کی لوستلی وه اواوس هغه له نژدی څخه دسرپه سترګو ګورو نو په دی وجهه سره هغه یوڅه اشتباه اوخطا کوم چی زمونږپواسطه سره په دغه منطقه کی څه د داخلید لو اود خارجیدلو په وخت کی ترسره شو دهغه پایلی داسی وشو چی مونږ دلته بی له دی چی وپیژندل شو تر یوکال پوری همد لته پا تی شولو . اما زمونږ دخوندیتوب یواځنی وسیله همغه زمونږ دځیری تغیر (تغیرقیافه)وه اوهغه داچی هیڅ خارجیان حتی نه یویا دوه امریکایی په شمول دځنی هغه یوڅوک چی طلای ویښتان اوآبی سترګی ولری دلته هیڅکله نه دی راغلی .

د کورینګل په دره کی د ورننوتو څخه سل متره مخکی مو دسبا یی چای دڅکلو د پاره مونږ دواړه ، موتروان او زمونږ ترجمان سره په یو کوچنی تش سماورګی یا یوه کوچنی چایخانه کی سره تم شولو اما ځلوارخان زمونږ څخه مخکی تللی وه او دا ځکه چی هغه مونږته د سفرپه پیل کی ویلی وه چی زه یواځی ستاسونه یو څه مخکی په سفرروانیږم ، په دی وخت مونږ ددغه کوچنی چایخانی څخه دباندی یوسړی ولید چی هغه په یوه تیره چا ړه سره دغوا ځګر

اودهغه زړه اودغوا دبدن غوښې توټې توټې کول او په همدې وخت کې دهغه ځاى ولګردى ورى سپيان ډير په ځير سره دغه سړي ته کتل چې ګوندې که يوڅه غوښه هغوته ورواچوى .په دى وخت کې ځلوار خان هم بيرته راوګرځيد او د سهارنى په عبادت اويا په لمونځ کولو باندى پيل وکړ: اوهغه داچې هغه په خپل مخکې دسجدى کولو د پاره يوه پلاستکي جاى لمانځ وغوړول دهغه جاى لمناځ په ښکتنى څنډه کې مخامخ قبلى خواته ودريد ،خپل لاسونه په يودبل سره پاس پخپل سينه کې کيښود اودځان سره لکه څوک چې دچاغيبت وکړى دځان سره څه ويل او بيا ر کوع اوسجدى ته ځان تيټول اوخپل تندى پرهغه غوړيدلى جاى المانځ باندى اېښودل او سجده کول.هغه خپل همدغه رنګ حرکا تو ته دوام ورکړ ترڅو چې يې خپل عبادت ختم اوبيا دوعاوکړاوبيا مونږ سره په يوه وړه ميلمستا يا ضيافت کې ګډون وکړ کوم چې مونږ دهغه سره يوځاى د تناره ګرمى ډوډى ، تورچاى او دغوا د تازه شدى په خوړلو او څکلو سره پيل وکړاويوښه سهارنى چاى موسره په خبرواترووڅکل تيرکړل هوا ډير تراوتازه وه اوزمونږ.سترګى پريوه کوچنى وياله يالښتيي باندى ولګيد کوم چې دکورينګل دلوړى برخى څخه مخکې له دى چې دپيچ وادى ته را داخل شى ښکته خواته بهيدل اومخکې دپيچ ددرى په خوله کې کوم چې دواړه سيندونو سره يوځاى شى هلته يو وړه پل ترسترګو کيدل کوم چې کورينګل دپيچ ددرى سره نښلول اوپه دى ځاى کې يعنى دهمدى پل په يواړخ کې دافغان يو نظامى د تلاشى پوسته ځاى پرځاى شوى وه . اوکله چې مونږ هغه ځاى وليد مونږ سره داسى نظر راپيدا شو چې ددغه ځاى ځايى خلک د دى امنيتى پوستى دمنسوبينو سره داسى چلند کوى لکه چې پښو دموږکو سره کوى يعنى دهغوى اړيکى چندان دوستانه او ښه نه وه اما دفرهنګى او دوديز برخوردونو په نظر کې نيولو سره ظاهراً داسى معلوميدل چې دوى سره ښه اړيکى لرى .

يو اونى مخکې کوم چې مونږ دلته ورسيدلو په دغه پوسته کې هغه دشګو پوجى چې د امنيت د پا ره په پوسته کې ځاى پرځاى شوى وه دشورشيا نو ددروند اودپرله پسى ډزو سره سورى سورى شوى وه اوددوى ترمينځ يعنى دپوستى دپرسونل اود شورشيانو ترمينځ درى ساعته سخت جنګ روان وه کوم چې په جنګ کې له دروند وسلى اوله ماشيندار څخه هم کاراخيسل شوى وه اوهمدا شان يوپربل باندى لاسى بمونه اوراکټ هم وارول اود هغه ځاى ځاى

خلکو مونږ ته وویل چې په دی جګړه کی افغانی سرتیری شا ته ترصد وکړل اوله خپل ضا یعا توڅخه مخنیوی وکړل ددی جنګ شدت اوداچی دشورشیا نو هدفونه دهغو پواسطه سره ښه وبیښتل کیدل نود هغه ځای خلکو ته کوم چی وادی ته را داخلید ل یا خارجید ل ځنی شک اوشبهی دهغو په ذهنونو کی را پیداکړی وه اوهغه داچی ولی د شورشیا نو هر ګذار په هدف کی لګیږی ؟

نوکله چی موخپل سهارنی جای وڅکل او تمام مو وکړل بیرته خپل موټر ته راستون شو اوپه سفر موپیل و کړل ، ترڅو چی یو افغا نی نظا می د تالاشی نقطی ته ورسیدلو ، نو په دی ځای کی یوافغانی سرتیری زمونږ موټر ددی پل په یوه څنډه کی کوم چی موخپل موټر درولی وه غوښتل چی تلاشی کړی نو کله چی ددی سرتیری نظرپرځلوار خان باندی ولګید سمدلاسه ځلوارځان ته سلام وکړ اوزمونږ دموټروان سره لکه د دوه ملګری په شان یود بل سره ټوکی او ټکالی وکړل ، دوی یود بل څخه داسی پوښتنی اودرویجنی سره رد اوبدل کړ اوسره ویلی چی دوی څومره دامریکای جوړکړ شوی دغه دروند ټوپکونو د ګرځولو سره اوددی معمولی موټرو سره په جګړه کی ستړی اوستوما ن شوی دی ، اودیولږ څیرلو او ژوربررسی څخه داسی رامعلومید ل چی دغه لوبه یوڅه مخکی له مخکی طراحی شوی وه کوم چی دغه سرتیری ځلوارځان پیژانده چی هغه دطالیانو سره نژدی اړیکی لری اوهغه په دی هم پوهیدل چی هغه مخکی پرهغه باندی دجګړی په وخت کی یرغل کړی وه اوبیا به هم یرغل وکړی . هغه یعنی هغه سرتیری چی زمونږ موټر تالاشی کول

په دی وخت کی زمونږ دموټرشاته واغوښتل دموټر په ټول بکس کی دهغه سترګکی پریو بستره یا دځوب په بستر با ندی ولګید ،مونږ په دی وخت کی ډیر بیره درلود چی څنګه له دغه ځای اوله دی تلاشی څخه ځا نو نه خلاص کړو اوداځکه چی مونږسره په موټرکی یوڅودانی د(PVC) نلونه وه اومونږ غوښتل چی دځلوار خان کورته نژدی ددغه نلونو پواسطه سره هغه لښتی یا ویا له ته تغیر جهت یاسمت ورکړو دځان سره لرل کوم چی یواځی په اسعد آباد کی پیدا کیدل اومونږ هم دغه نلونه له اسعد آباد څخه پیرودلی وه ، هغه له مونږ څخه پوښتنه وکړ چی دغه موټر له کو ځا یه څخه راغلی اوتا سی له کوم ځایه څخه یا ستی یاله کوم ځای څخه راغلی یاستی دحالاتو اودوضع خرپرتیا اودرونوالی زمونږ پر ترجمان باند داسی اثر غورځولی وه کوم چی هغه خپل ځان بایللی

وه اوجملات سره نشو کولای چی یوبل سره ونښلوی یا سره اړیکی ورکړی یعنی هغه یوډول عصبی واکنش یاعکس العمل ښودل ،زمونږ سترګی هم ښکته اوپورته کیدل اومونږ سره دا باور پیداشوی وه چی که چیری زمونږ دغه سفر ترسره نشی یا هغه ځای ته کوم چی زمونږهدف وه ونه رسیږو.هغه څه وه چی زمونږد کنترول څخه وتلی وه.اومونږ پخپله نا امیده شوی اوو اوداسی مو انګیرل چی زمونږ ټول خواری اوهغه زحمت چی مونږ په دی تیر وختونو کی ترسره کړی ټول له یوسره همدغه شیبی پوری تړل شوی چی زمونږ برخه لیک به څرنګه شی؟ په دی وخت کی دغه تلاشی کونکی سرتیری په ډیر ځیرنظرسره زمونږ.ترجمان خواته وګرځید کوم چی هغه خپل(M16) وحرخول اودموټر دروازه یی په ډیر چالاکی سره خلاص کړ اومونږ ته وویل چی زر له موټره څخه راشکته شی .

## اتم

وروسته له هغه چی د تلاشی یا د نظامی پوستی دموظفینودتلاشی څخه را خلاص شولو،نو هغه سرتیری چی مونږ اوزمونږ موټر یی تلاشی کړ ،مونږ ته وویل چی بیرته موټر ته پورته شی او هغه هم مونږ سره یوځای په موټر کی کینښیا ست اوزمونږ موټروان ته وویل چی استاده یوڅه لږ مخی ته لاړ شه کوم چی هلته د پوستی یوبل موظف سړی زمونږ پاسپورتونه وګوری اوزمونږ هویت ځانته رامعلوم کړی،په دی وخت کی کله چی موشاته وکتل نو دکورینګل دره را ښکاریده اومونږ ته دا نګرانی را پیدا شوچی ممکن بیا به کورینګل ونه وینو. په هر صورت ددی پوستی امنیتی اومحافظوی سرتیری له یوسره ډیر مهربان او مسلکی خلک و ه اما یواځنی تشویش چی دهغوی سره موجود وه داوه چی ځلوار خان ولی زمونږ سره دی او ولی دهر شی په مورد کی مونږ ته معلومات راکوی؟اومونږهم ترخپل وسی پوری هڅه کول چی ددغه سرحدی امنیتی افسرانو سره ښه برخورد وکړو یا دهغوی مرسته د ځان دپاره وغواړو.

په هرصورت هغه موظف سړی مونږ یوڅه ښکته د پیچ دری په د ننه کی یومسول اوتصمیم نیوکی هیبیت مدیره ته ولیږلو هغه ځای ته چی هلته مونږ سره یونظامی قوماندان ولید او هغه په کابل کی دخپل مسولومقاماتو سره څووار تیلیفونی خبری وکړ او زمونږ دسفر اهتمامات سرکانی ته کوم چی هغه ځای

ته نژدی دامریکایانو یو نظامی اډه پروت دی را برابرول او هغه بیا مونږ ته وویل چی وروسته ددوو ورځودیوکاروان دتللو دپاره پروګرام جوړ شوی دی کوم چی باید سرکانی ته ولاړ شی .

هغه څه چی مونږدخپل هدف په اړین خپل زړه خوړل هغه زمونږ شکست اوناکامی وه کوم چی دغه موضوع په تکرار سره زمونږ ذهن دځان سره مشغول کړی وه و نو په همدی وجهه له دی نه چی زیات خپل زړه ونخورو نو هلته موسر په سر چای څکل او دنوموړی وادی په هکله موسره خبری کول ، وخت موتیرول اود هغه قوماندان په شعبه کی موتلویزون کتل کوم چی یو هندی فلم په دری ژبی سره دوبلی شوی وه. وروسته بیاله هغه موظف سرتیری مونږ دیوه وړه زهریدار موټرپواسطه سره سرکانی ته راورسول شو اوپه سرکانی کی مو د بګرام د هوایي آډی د مسول یعنی دجنرال بیلیک هاوک ( Black Hawks)سره مووکتل اومخکی له دی چی الوتیکی ته وروخیژو نومونږ دواړه دسر په اشاری سره ځلوارخان ته وکتل کوم چی هغه پخپله یوبل چاته پام اړولی وه چی مخکی هغه همدغه مقام اوموقف په بګرام کی درلود په هرصورت دلته مو دسوال کونکی ټول سوالونو ته ځواب ورکړ ل اوپه پا یله کی سره آزاد شولو .

زمونږ سفر دکورینګل ددری په درشل کی پای ته ورسید یعنی چی دیو کال جدوجهد اوپانګه اچونی سره یواځی لکه د یو تیرړی په څیر چی یو دډنډ ته ګذار کړ شی ختم شو اوزمونږ دیوکال خواری اود پروګرامونو طرحی ټول له یوسره دخاوری سره خاوری شول اوابداً خپل هدف ته ونه رسیدلو. اوزمونږ دیوکال خواری اوزحمت یواځی په دری دقیقو کی په بل مخ واوړیدل .

ځلوارخان چی دخپل دکورنی مشری لرل دهغه کورنی داسی انګیرل چی دغه جنګ د امریکایی قوتونو پرضد جګړه یوه مقدس جګړه دی کوم چی ځلوارخان هم په دی جګړه کی لکه د یو مشر نقش لوبوی حال داچی د یوی هفتی په تیریدوسره هغو ته داسی شک اوګمان پیداشو چی دلته درهبری څخه څه خبره نشته بلکه دلته دامریکایانوته دجاسوسی کولو موضوع ترسترګوکیږی اوهغوی د افغانستان حکومت ته داسی ښودل چی امریکایان دهغوی ترشا دطالبانوسره دسولی مذاکرات پرمخ وړی. دهغودتحقیق هییت ډیرمهربان اونرم خلک وه کوم چی کله دهغوی ادعا پوچ اوناسم ثابت شو نو هغه وشو کړلی

چې دخپل دکلي يو ګروپ سپين ږيرى چې دبند انتظا ر ايستل له انتظار څخه خلاص او هغوى يې آزاد کړل .

## نـهم

دکنړ دولايت دپيچ ددرې څخه کوم چې دجبهې په لمړى کرښه کې پروت دى د داسې مشاهداتو اود نظرياتو د شتون څخه داسې را څرګنديږى چې دجبهې لمړى کرښه ډير مستحکم او ډير ټينګ دى او له کال (۲۰۱۱) څخه کله چې دنوموړى سيمې امنيت افغان اردوته منتقل شوى دى له همغه وخته څخه افغانې ساتونکې په منطقه کې هره ورځ په يو اړخيز بڼې سره ګزمه وهې او سيمه ترځيل کنترول لاندى سا تلې دى سره له هغه چې په منطقه کې لا تراوسه شخړه اوخشونت دوام لرى اما له هغه وخته چې امريکا يا نو له دغه منطقې څخه وتلې او خپل پرسونل يې له خپلو پوستو څخه را ايستلې دى د شخړې او دخشونت اندازه اوکچه خورا ډير کم شوى دى او همدارنګه له هغه وخته چې دافغانستان داردو يوقوى جزوتام په دى منطقه کې دامريکايانو په مرسته سره د(۱۵۰۰۰) فټ په ارتفاع کې چې يوه مهم سوقالجيش کې ځاى پرځاى شوى دى دپوځ توان او ځواک يې لا پسې پياوړى کړى اوداسې احتمالات را په ګوته کوى چې دغه ځاى پرځاى شوى سرتيرى دهرهجوم اوددشمن دهر يرغل څخه له ځپل ځانه مستقلانه دفاع کولې شى اوبيا په ځانګړى بڼه سره دهغوى مورال وروسته دافغانستان اودامريکې ترمينځ دامنيتې تړون په لاس ليک کولو سره لاپسې بورته شوى دى .

دنظامې برياليتوبونو څخه سربيره يو بل مهم شى چې بايد دپام ونه غورځول شى هغه دادى چې په دى هيواد کې د هرډول احتمالې سوله راوستل چندان آسانه نه بريښى ، يا داچې دخلکو دنظرياتو اوړيدل يا ښه کيدل دافغان دمرکزى حکومت په لوراوبيا په ځانګړى بڼه سره ددى سيمې دخلکو باورونه کوم چې طالبانو ته پخپل خوښه آزاد لاس ورکړى چې د افغان د حکومت پرضد وجنګيږى. سره دهغه چې دافغان حکومت پوره يوکال ددى سيمې دمشرانو سره څو څووارى دجګړى دختمول دپاره سر جلسې اوجرګې کړى دى اماسره دټولوموجوده ناخوالو يوه مهم نقطې کوم چې دلته ترسترګو کيږى هغه دادى :

***چې دمقاومت دلورى څخه دافغان دحکومت سره دخلاصې خبرې کولو تمايل رامينځته شوى اودهغوى اکثر ملګرى د تيرتصوراتو په لومه کې نور ځان***

**نه رانښلوی او نوردعبث ایدیولوژی پـه هنداره کی خپل ځان نه وینی اواوس هغوی بلکل په دی باورمند شوی دی چی جنګ اوجګړه د وضع پـه بدلون کی نورنقش نشی لوبولی اوجنګ نورنشی کولی چی مونږته نیکمرغی راولی.**
په کال (۱۹۸۰) کی دځنو ځانګړی ملاحظاتو په رڼا کی دنن ورځی د حالاتو په پرتله وضع ډیر خراب او پیچلی وه نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره ځلوارخا ن ته بلنه ورکړل شوچی کابل ته راشی اودافغانستا ن د دولت د مشر ښاغلی **ببرک کارمل** سره یعنی دهغه چا سره خبری اتری وکړی کوم چی هغه دسوسیالیستی اودسکولاریستی نظریاتوخاوند دی که چیری د ځلوارخان اودهغه ترمینځ جوړ جاړی راشی او په پایله کی د کورینګل په دره کی سوله تامین شی او هلته دولتی اداری خپل ورځنی دندی ته دوام ورکړی ، ځلوار خان دببرک کارمل سره دخپل خبرو په اړین داسی څرګندونه وکړ : هغه وویل چی زه تقریباً اووه ورځي دافغانستان دجمهوری دولت یا دارګ په میلمستون کی ملیمه اوم اودکارمل سره می خبری اتری کول ، مونږ دواړه دکورینګل دوادی دسولی دراوستلو دپاره تقریباً (۱۴) طرحی یا وړاندیزونو باندی خبری وکړل کوم چی ددی (۱۴) طرحو څخه (۱۲) طرحی ددواړو له خوا ومنل شو یوازی دوه وړاندیز کوم چی داسلام سره ډیر اړینی وه د کارمل له طرفه ونه منل شو **( ځلوارخان دغه دوه طرحی کوم چی داسلام سره اړینی وه په ډاګه نکړل چی کومی طرحی وه )** نوپه همدی بنیاد زمونږ مرکه څه نتیجه ورنکړ نو که چیری دغه دوه وړاندیزونه هم منل شوی وای نوپه هغه صورت کی د کورینګل په وادی کی به سوله راتلل.
**په هرصورت له کورینګل څخه دامریکایانو په وتلو سره ښاغلی ځلوار خان نن یوبل وړاندیز باندی خپل هڅی ته دوام ورکوی اودغه پروګرام له کال (۱۹۸۰) څخه را په دی خوا وړاندی کړی اوهغه داچی باید په کورینګل کی حکومتی اداری ونه اوسیږی مرکزی دولت دکورینګل دخلکو په ورځنی کار اوبارکی مداخله ونکړی ، نو دهمدی طرحی دپلی کولو دپاره هغه دافغانستان ددولت او په کورینګل کی د نظامی موظفو قوماندانانو سره وخت نا وخت مرکی اورسمی ناستی او ولاړی کوی ، د هغه دلیل دادی چی دلته لاتر اوسه طالبان ددی د پاره چی حکومتی استاذی له دغه سیمی څخه وباسی ډیر خونړی یرغل ته لاس پوری کوی چی د هغه په پایله کی ډیر نورو خلکو ته**

**ستر تاوان رسول کیږی نو ددی دپاره چی هغوی ته نور بهانه اوپلمه پاتی نشی بهتر دی چی دکورینګل په وادی کی حکومتی شعبات یا دولتی استاذی موجود ونه اوسی ترڅو پوری چی ددی سیمی خلک ددولتی ادارو په اړین خپل ذهن ته تغیر ورکړی اودی ته چمتو شی چی د مرکزی حکومت څخه فرمانبرداری وکړی یا حکومت ته مطیع شی . اودبلی خوا څخه دلته طالبان بیا ونشی کړلی چی پرخلکو باندی ګولی وچلوی اوسوله بیا هغه وخت رامینځته کیږی چی د مخالفو ډلو ټپلو پلمه د مینځه لاړ شی اوخپل تویکونه خمکی ته کیږدی او په نوموړی وادی کی سوله رامینځته شی .**

په هرصورت ګرچه ښاغلی ځلوار خان ددی کشالی دختمید و دپاره چندان خوشبینی نه ښکاره کول اما د کورینګل د شورا پرموجود یت با ندی کوم چی هغه د نوموړی شورا جلسی هره اونی کی دایرول هغه شورا ته ډیر علاقمندی ښودل اوپه کراتو سره ویل چی دغه ډول شورا په کورینګل کی دشوروی اتحاد د نظامیا نوداشغال په وخت کی موجود نه وه اوهغه داچی هیڅوک دسولی دراوستلو په اړین چندان دلچسپی نه لرل ، ښاغلی ځلوار خان په ډیر تاکید سره وویل چی دهمدی شورا برکت وه چی امریکایانو دکورینګل له وادی څخه پښی سپکی کړل اووتل .

نن ورځ دافغانستان پوځ کولای شی چی په مستقلانه بڼی سره دشورشیانو په ضد اودهغودمیځه وړلوپه مخه په دی غرنی هیواد کی ډیرسترنظامی عملیاتونه ترسره کړی اودهغه په څنګ کی دامریکایی ماهرانو په هڅی اواند سره ځبل مهارتی اومحاربوی کړنی لاپسی غښتلی کړی ، او دهیواد له هرګوټ څخه راپا تی شورشیا ن له مینځه ویسی .

په هرصورت ښاغلی ځلوار خان بیرته کورینګل ته را ستون شو ، اوهغه لاتراوسه په کورینګل کی دهغه ځای دمشرانو سره دکورینګل شورا هره اونی دایروی یعنی دهغه ځای دمشرانو سره کوم چی دطا لبا نو سره نژدی تعلقا ت لری ، همدارنګه هغه یعنی ځلوارخان په منظم بڼی سره دافغانستان د حکومت له مسولو مقاماتو سره هم لیدنه کتنه کوی اوځپل هڅی ته دوام ورکوی ، بی ویلو دی پا تی نشی اوهغه داچی هیچا به امریکایان نه وی لید لی چی افغان دافغان پرضد شدید جګړی ته هڅولی وی په هر صورت ددی کړنی دتعادل ځواب به زمان مونږ ته راکړی .

دبلی خوا څخه لا نه دی معلوم چی مونږ دځلوار ځان اودکورینګل د دوستا نو په نظراوهغه هم بیا په اشتباه او په ناسم عبارت کی سره څه یو اویا څرنګه راځو اویا هغوی مونږ څرنګه ارزیابی کوی ؟هغه تراژیدی کوم چی امریکان دکورینګل په دره کی دهغه سره مخامخ دی اونورتول ستونزی کوم چی دهغه ترازیدی ترسیوری لاندی پریوزی له کلونو راهیسی دټولو حالاتو اوداوضاعو ناڅرګند توب او مبهموالی او یا له نظره د ځنو رازونو پټ سا تل وه کوم چی امریکیانو په دی جګړه کی خپل وینی توی کړل اویا په مرګ سره محکوم شول او له دی نړی څخه سترګی پټی کړل نو په دی بنیاد سره ویلی شو چی دلته په دی کورینګل دره کی به دجګړی دپاره دلعنت دآواز انعکاسات به د تل دپاره جاری اووسی .

__________________________ **په سلامونو**